جلیل ډاډمن




Scanned by CamScanner

# له انټرنېټه د پيسو گټلو
# ٦٠٠ لارې

# 600 Ways
## to Make Money Online

رحمت ديوان

Scanned by CamScanner

د کتاب حقونه د لیکوال سره خوندي دي

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: له انټرنېټه د پېسو ګټلو ۶۰۰ لارې

لیکوال: رحمت دیوان

کمپوز او ډیزاین: لیکوال پخپله

چاپ کال: ۱۳۹۶المریز - ۲۰۱۷ز

چاپ شمېر: ۱۰۰۰ (زر ټوکه)

بیه: ۲۰۰ افغانۍ

چاپ ځای: وایګل چاپ


## اړیکې:


موبایل شمېره: +93(0)788694194

برېښنالیک: dewanjournalist@gmail.com

فېسبوک: www.facebook.com/rahmat.dewan.7

www.facebook.com/rahmatdewanofficial

بلاګ: www.rahmatdewan.blogspot.com

یوټیوب: (youtube.com/user/dewanofficial) Rahmat Dewan

Learn with Rahmat Dewan

ټویټر: @rahmatdewan

انسټاګرام: Rahmat_Dewan


Scanned by CamScanner

هغه ځوانانو ته ډالۍ!

چې له ټولنيزو رسنيو يې ښه ګټه پورته کړې

د انټرنېټ پر نړۍ کارونه کوي

د هېواد د پرمختګ لپاره زده کړې کوي

او

په نړۍ کې يې د **افغانستان** نوم روښانه کړی

#DigitalAfghanistan

#ډيجيټل_افغانستان

Scanned by CamScanner

انټرنیټ په اوس وخت کې ډېره ښه اسانتیا ده، نو د
دې نه ښه استفاده وکړئ.
خپل وخت او پیسې بې ځایه مه ضایع کوئ، خپل
وخت او پیسو ته ارزښت ورکړئ او د ۲۱مې پیړۍ له
دې لویې اسانتیا څخه ګټه ترلاسه کړئ.

Scanned by CamScanner

# لړلیک

| | |
|---|---|
| د انټرنېټ نه پېسې ګټل رښتيا دي؟ | ۹ |
| خپلې خبرې | ۱۰ |
| د ځینو اکاونټونو جوړولو طریقې | ۱۵ |
| له انټرنېټه د پېسو ګټلو ۶۰۰ لارې | ۲٤ |
| د اعلانونو Ad Networks له لارې پېسې ګټل | ۲٦ |
| د Freelance له لارې پېسې ګټل | ٤۰ |
| د انلاین ښوونې Teaching له لارې پېسې ګټل | ٤۹ |
| د Affiliate Marketing له لارې پېسې ګټل | ٦۰ |
| د بلاګنګ Blogging له لارې پېسې ګټل | ٦۹ |
| د انلاین کتابونو خرڅولو له لارې پېسې ګټل | ۷۵ |
| د Revenue Sharing له لارې پېسې ګټل | ۷۸ |
| د ویډیوګانو خرڅولو له لارې پېسې ګټل | ۸۱ |
| د عکسونو خرڅولو له لارې پېسې ګټل | ۸۲ |
| د Websites او Domains خرڅولو له لارې پېسې ګټل | ۸٤ |
| د اپلیکېشنو Apps له لارې پېسې ګټل | ۸۷ |
| خپل انځورونه Paintings انلاین خرڅ کړئ | ۸۸ |
| د انټرنېټ له لارې د اتاقونو په کرایه ورکول | ۹۰ |
| د Short Links شئیر کولو له لارې پېسې ګټل | ۹۲ |
| په انټرنېټ لوبې وکړئ او پېسې وګټئ | ۹٤ |
| د انلاین اندپوهنې له لارې پېسې ګټل | ۹۵ |
| د ژباړې له لارې پېسې ګټل | ۹٦ |
| د ټرانسکرپشن له لارې پېسې ګټل | ۹۷ |
| انلاین شاپنګ وکړئ او پېسې مو بېرته ترلاسه کړئ | ۹۸ |
| د وېب هوسټنګ له لارې پېسې ګټل | ۱۰۰ |



Scanned by CamScanner

| | |
|---|---|
| د انلاین سټور جوړولو له لارې پېسې ګټل | ۱۰۱ |
| د PTC وېبپاڼو نه پېسې ګټل | ۱۰۲ |
| د زړو توکو خرڅولو له لارې پېسې ګټل | ۱۰٤ |
| د انټرنېټ نه د پېسو ګټلو ځینې نورې لارې | ۱۰٦ |
| د SEO د لارې پېسې ګټل | ۱۰۷ |
| د برېښنالیکونو لوستلو له لارې پېسې ګټل | ۱۰۹ |
| د CPA Networks له لارې پېسې ګټل | ۱۱۰ |
| د فایلونو اپلوډ کولو له لارې پېسې ګټل | ۱۱۱ |
| د فایلونو د ډاونلوډولو له لارې پېسې ګټل | ۱۱۲ |
| ډیجیټل کرنسۍ کې سرمایه ګذاري وکړئ او پېسې وګټئ | ۱۱۳ |
| د Forex Trading له لارې پېسې ګټل | ۱۱۵ |
| د انلاین پېسو ګټلو ځینې نورې لارې | ۱۱٦ |
| د پېسو ګټلو ځینې خوندورې لارې دا هم دي | ۱۱۷ |
| تاسو څه وایئ؟ | ۱۱۸ |
| څو خبرې | ۱۱۹ |
| د لیکوال نور کتابونه | ۱۲۰ |



Scanned by CamScanner

## ضروري يادښت:

د دې کتاب ټول حقونه د ليکوال سره خوندي دي، د ليکوال له ليکلي اجازې پرته دا کتاب يا د دې کتاب کومه برخه چرته انلاين په کومه وېبپاڼه کې خپرول يا هم په مجله او ورځپاڼه کې خپرول سخت منع دي.

**که کتاب مو خوښ شو، نو حتماً د کتاب پښتۍ سره سيلفي واخلئ/عکس يې واخلئ او په ټولنيزو رسنيو (فېسبوک، ټويټر، انسټاګرام) يې خپور کړئ، تر څو نور خلک هم ترې خبر شي او هغوی يې هم واخلي.**

**کله هم چې د کتاب سره سيلفي/عکس خپروئ، نو ورسره دا دوه هشټيګ #ډيجيټل_افغانستان او #DigitalAfghanistan حتماً کاروئ.**

په دې کتاب کې د انټرنېټ د بېلا بېلو وېبپاڼو نه پرته د OnlineUstaad.com څخه ډېره مرسته اخيستل شوې ده، نو د دې وېبپاڼې او د وېبپاڼې د چلوونکي څخه ځانګړې مننه کوم.

**په کتاب کې يادې شوې وېبپاڼې ما په خپله کتلي، معلومات مې ترې راغونډ کړي او بيا مې په دې کتاب کې ځای پر ځای کړي دي.**



Scanned by CamScanner

# د انټرنېټ نه پېسې ګټل رښتيا دي؟

د ډېرو خلکو په ذهنونو کې به دا خبره ګرځي، چې د انټرنېټ نه پېسې ګټل هسې ګپ دی، یا درواغ دي، خو نه، دا خبره رښتیا ده، ځکه چې نن سبا په ټوله نړۍ کې په انټرنېټ څومره کاروبار روان دی، دومره کاروبار به له انټرنېټ نه بهر نه وي روان.

پښتانه لا هم په دې خبرو یقین نه ساتي، خو هغه چې نړۍ یې لیدلې ده، د انټرنېټ سره بلد دي او تعلیمونه یې کړي دي، هغوی اوس په دې خبره پوه دي او ډېری خلک یې زه پېژنم هم، چې هغوی د انټرنېټ نه هره میاشت ډېری پېسې ګټي.

نو دا خبره سل په سلو کې رښتیا ده، چې د انټرنېټ نه پېسې ګټلی کېږي، ځکه چې په انټرنېټ کې ځینې داسې شرکتونه یا وېبپاڼې هم شته، چې هغوی هر کال په بیلیونونو ډالره ګټه کوي، نو چې څومره هغوی ګټه کوي، د هغوی سره چې هر څومره خلک فري لانس دي، هغوی هم دغه هومره ګټه له دې لارې ترلاسه کوي.

نو په دې کتاب کې د انټرنېټ نه د پېسو ګټلو ۶۰۰ لارې ښودل شوي دي، په دې ۶۰۰ لارو کې به حتماً تاسو د یو کار ورتیا لرئ او د خپلې هغې ورتیا له لارې، تاسو هم د انټرنېټ دې نړیوال جال ته راننوځئ او د هغه میلیونونو خلکو په قطار کې ودرېږئ، چې په کور ناست، د انټرنېټ نه هره میاشت ډالر اخلي.



Scanned by CamScanner

# خپلې خبرې

دا به د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال و، چې زه د بلاګ سره بلد شوم، هغه وخت موږ په دې څېزونو ډېر نه پوهېدو، خو په ۲۰۱۰ کال کې ما يو بلاګ جوړ کړو.

وروسته له هغې، چې ما په بلاګر کې ځان ته بلاګ جوړ کړو، له دې خبر شوم چې د دې لارې پیسې هم ګټل کېږي، که څه هم ما ياد بلاګ د پیسو ګټلو لپاره نه و جوړ کړی، خو وروسته هغه بلاګ ماته په مالي لحاظ هم ډېره ګټه راورسوله.

بيا له هغې وروسته ما دې کار ته دوام ورکړ او تر ډېره وخته پورې، ما هره میاشت د انټرنېټ نه پیسې ترلاسه کړې، خو وروسته بيا يو وخت داسې هم راغلو، چې هغه بلاګونه، چې ما وروسته يو شمېر نور هم جوړ کړي و، يا خو ورته زما بيا دومره پاملرنه نه وه او يا بله څه وجه وه، نو ګټه يې کمه شوه او له هغې وروسته ما هم بيا پرېښودل.

بيا په دې تېرو پنځو کلونو کې د انټرنېټ نه د پیسو ګټلو ډېرې لارې ما نورې هم پيدا کړې، خو يو خوا زما انګليسي کمزورې وه، بل خوا ځينو کارونو ډېره خوارې غوښته، نو له دې وجې هم رانه ډېر کارونه پاتې شو، خو د انټرنېټ سره زه له تېرو اووه کلونو راهيسې په څه نا څه ډول بيا هم تړلی پاتې شوی يم او که هره میاشت نه، نو دوه يا درې میاشتې وروسته، يو څه پیسې ما بيا هم د انټرنېټ له لارې ترلاسه کړې دي.

په دې تېرو ۷ کلونو کې، ما د کمپيوټر او انټرنېټ سره تړلي ډېر څېزونه هم زده کړل، له ډېر وخت نه زما زړه و، چې د انټرنېټ د هغه ګټو په اړه يو کتاب وليکم، چې خلک يې ترې ترلاسه کولای شي، ځکه ما داسې ډېر ملګري وليدل، چې هغوی کولای شي، چې له انټرنېټ څخه پیسې وګټي، خو هغوی په دې نه پوهېږي، چې څنګه يې وګټي.

نو په دې اړه زما له ډېر وخت راهيسې فکر و، چې يو کتاب پرې وليکم، خو بس برابرېدم به ورته نه.



Scanned by CamScanner

وخت نا وخت مې له ځينې خپرندويه ټولنو سره هم په دې اړه خبرې وکړې، خو په هغوی کې يو هم د کتاب چاپ ته غاړه کې نه شوده، نو بس له دې وجې هم رانه پاتې و.

خو کله چې ما د OnlineUstaad.com د انټرنېټ نه د پېسو ګټلو په اړه يو پوسټ وليده، نو له هغې وروسته مې پخه پرېکړه وکړه، چې اوس خو د انټرنېټ نه د پېسو د ګټلو په اړه کتاب ليکم، چې دا دی اوس ستاسو په لاسونو کې دی.

**Mar 1 – 31, 2017**

Ending balance: $0.00

| Date | Description | Amount (USD) |
|---|---|---|
| Mar 29, 2017 | Automatic payment: Wire transfer to bank account ••••4038: AP10O7KAZP | -$357.86 |
| Mar 22, 2017 | Automatic payment cancelled: Wire transfer to ban | $342.46 |
| Mar 15, 2017 | Automatic payment: Wire transfer to bank account | -$342.46 |

Starting balance: $357.85

دا زما د نوي ګوګل ايډسنس اکاونټ پېسې دي، چې تاسو يې په دې پاس انځور کې ليدلی شئ.

له دې مخکې ماسره يو بل اکاونټ و، خو اوس مې دا ځان ته نوی جوړ کړی دی، دا هوسټېډ اکاونټ دی، چې يواځې د يوټيوب لپاره کارېږي.

کوم اکاونټ چې به ما د بلاګونو لپاره کارولو، هغه ماسره د ډېر پخوا نه و، چې تراوسه پورې کار کوي، خو چونکې وروسته له هغې چې ما بلاګونه پرېښودل او په يوټيوب مې کار شروع کړ، نو بيا مې يو نوی اکاونټ د ځان لپاره جوړ کړ، چې اوس هم له هغې ښه کار اخلم.

خو زما زوړ اکاونټ زه له ۲۰۱۱ يا ۲۰۱۲ کال ښه کاروم، چې ډېر زيات وخت يې وشو، که څه هم د هغې د دې ٦ کاله شا و خوا ټول راپور په يو انځور کې نه رااخيستل کېږي، خو دلته يې د يو څو مياشتو يو انځور درسره لاندې شريکوم، چې تاسو يې وګورئ او په دې پوه شئ چې د انټرنېټ نه پېسې ګټل کېږي، زما دا اکاونټ خو ډېر معمولي او هيڅ هم نه دی، خلک په ميليونونه ډالر هره مياشت ګټي.



Scanned by CamScanner

| | |
|---|---|
| Jun 1 – 30, 2014 | Ending balance: $107.98 |
| May 1 – 31, 2014 | Ending balance: $80.81 |
| Apr 1 – 30, 2014 | Ending balance: $172.68 |
| Mar 1 – 31, 2014 | Ending balance: $99.81 |
| Feb 1 – 28, 2014 | Ending balance: $200.11 |
| Jan 1 – 31, 2014 | Ending balance: $95.13 |
| Dec 1 – 31, 2013 | Ending balance: $173.50 |
| Nov 1 – 30, 2013 | Ending balance: $220.70 |
| Oct 1 – 31, 2013 | Ending balance: $161.71 |

په پاس انځور کې تاسو لیدلی شئ، چې یو خوا ورته نېټه لیکل شوې ده او بل خوا ورته ډالر لیکل شوي دي، چې په پلانکي نېټه، څومره ډالر دې اکاونټ ته راغونډ شوي او لېږل شوي دي.

نو نورې ټولې لارې خو د کتاب په راتلونکو پاڼو کې شته، کتاب ښه په غور سره وګورئ، کومې کومې لارې چې پکې ښودل شوي دي، هغه په خپله وګورئ او هلته کار پیل وکړئ، نو تاسو ته به په خپله معلومه شي، چې په انټرنېټ هره میاشت څومره کاروبار کېږي.

یوه ضروري یادونه به تاسو ته دا هم وکړم، چې انټرنېټ داسې یوه نړۍ ده، چې دلته هره ورځ ځینې مشهورې وېبپاڼې خرڅول کېږي او اخستل کېږي او یا هم ځینې وېبپاڼې له مینځه ځي، نو په دې کتاب کې چې د څومره وېبپاڼو ادرسونه شته، که چېرې په هغې کې یوه نیمه داسې ستاسو مخې له راغله، چې یا هغه وېبپاڼه له مینځه تللې وه او یا هم تاسو د یوې وېبپاڼې ادرس سرچ کړ او په خپله هغه ادرس یو بل ادرس ته بدل شو او وېبپاڼه راخلاصه شوه، نو پوه شئ چې دغه وېبپاڼه په نړدو ورځو کې چا اخستې ده او ادرس یې ورته بدل کړی دی، خو که دوی ورته ادرس بدل کړی هم وي، تر یو وخته پورې په هغه پخواني ادرس هم خلک ورتللی شي.

د دې کتاب لیکلو پر مهال زه هم له ډېرو نوو ځیزونو سره بلد شوم، ځکه



Scanned by CamScanner

تراوسه پورې ما هم د دومره ډېرو لارو فکر نه و کړی، چې د انټرنېټ نه به په دومره ډېرو لارو پیسې ګټل کېږي، خو کله چې مې په دې کتاب کار پیل کړ او هر یو ځای مې په خپله وکوت، معلومات مې ترې ترلاسه کړل، نو پوه شوم چې نه، دا خو لا ۶۰۰ سوه دي، له دې هم ډېرې زیاتې لارې شته، چې د انټرنېټ نه پیسې ګټل کېږي.

انټرنېټ د منډې ځای دی، په انټرنېټ کې به ځان ډېر ویښ ساتئ، ځکه دلته هره ورځ نوي شیزونه راځي، هره ورځ زاړه شیزونه په نوو بدلېږي او هره ورځ زاړه شیزونه له مینځه ځي، نو که تاسو غواړئ چې په انټرنېټ تل پاتې شئ او ګټه ترې ترلاسه کړئ، نو بیا به حتماً له هر نوي پرمختګ نه ځان خبروئ.

ما د دې کتاب په لیکلو کې یوه ګټه دا هم وکړه، چې تراوسه پورې زما سره په خپله هم دومره معلومات نه و، لکه اوس چې یې تاسو له دې کتاب څخه ترلاسه کولای شئ. په دې کتاب کې چې د هر څه په اړه معلومات راغونډ شوي دي، اول ما په خپله په دې ځان پوه کړی دی، وروسته مې بیا دلته لیکلي دي، نو دومره ګټه ما هم له دې کتاب څخه ترلاسه کړې ده، څومره چې به ترې تاسو ترلاسه کوئ.

زموږ په هېواد کې د انټرنېټ نه د پیسو په ګټلو کې ځینې مشکلات هم شته، خو داسې مشکلات نه دي چې سړی دې ښځي له هر څه تېر شي، دا ستونزې به په هره راتلونکې ورځ کې ختمېږي او موږ به د پرمختګ په لور ځو.

خو یوه لویه ستونزه، چې ماته اوس دلته ښکاري، هغه دا هم ده چې دلته عامو وګړو ته کوم انټرنېټ په لاس ورځي، هغه ډېر کمزوری دی، که بیا یو څوک د ښه او تېز انټرنېټ هڅه کوي، چې ځان ته یې ولګوي، نو د هغې بیه بیا دومره لوړه وي، چې د هر چا د وسې کار نه وي، نو دولت باید دې لوري ته هم خپله پاملرنه وکړي، چې په افغانستان کې انټرنېټ تېز او ارزانه شي، نو بیا زموږ د ځوانانو لپاره انټرنېټ یو ډېر ښه ځای دی، چې له دې ځایه په کور ناست پیسې وګټي.

د کتاب د لوستلو نه وروسته، چې کله تاسو په انټرنېټ کار پیل کړئ او یو څه ګټه ترې ترلاسه کړئ، نو ما حتماً خبر کړئ، زه به ډېر خوښ شم چې ستاسو د ګټورو مشورو نه خبر شم.



Scanned by CamScanner

که دا کتاب تاسو ته د ګټې کتاب ښکاره شو، نو بیا یې حتماً له نورو ملګرو سره هم شریک کړئ، په ټولنیزو رسنیو د کتاب پښتی خپره کړئ او خلکو ته ووایئ چې هغوی یې هم واخلي.

نور نو دا تاسو او دا کتاب.

د روښانه راتلونکي په هیله

رحمت دیوان

۴، ۴، ۲۰۱۷ز



Scanned by CamScanner

# د ځینو اکاونټونو جوړولو طریقې

په لومړي سر کې غواړم، چې د ځینو ځیزونو په اړه معلومات درکړم، چې دا جوړولی څنګه شئ او کار ترې څنګه اخستلی شئ.

ځکه چې دا معلومات ستاسو لپاره ډېر ضروري دي، کـه یـو خـوا زه خپلـه د دې ټولو لارو نه راتېر شوی یم، نو بلخوا چې زمـا مخـې تـه کـومې سـتونزې راغـلي دي، له هغې به هم تاسو خبر کړم، چې کـه ستاسـو مخـې تـه داسـې یـوه سـتونزه راشي، نو باید چې تاسو څه وکړئ.

## د ګوګل ایډسنس اکاونټ جوړول:

د Ad Networks له لارې د انټرنیټ نه پیسې ډېرې په اسانۍ ګټل کېږي، دا یې ډېره اسانه لاره ده او پـه انټرنیـټ د ویبپاڼو او بلاګونو چلوونکي، که ټول نه وي، نو زیـات شـمېر یـې د همـدې لارې پیسې ګټي.

Google AdSense

د Ad Network لـه ټولـو مشـهور او اسان یې د ګوګـل ایډسـنس Google Adsense دی، زه یې په خپله هم له تېرو ٦ کالو راهیسې کاروم.

اسان ځکه دی، چې یو خوا دوی اکاونټ ډېر په اسانۍ سره ورکوي، له دوی پرته چې نور څومره هم د Ad Networks شرکتونه یا ویبپاڼې دي، هغوی اکاونـټ هر چاته په اسانۍ نه ورکوي، خو دوی یې ورکوي. بله د کار خبره پکې دا ده، چې دوی پیسې هر هېواد ته لېږي، په نورو زیاتو Ad Networks کې ستونزې دا دي، چې هغوی ډېری هېوادونو ته پیسـې بېخـي لېـږلی نـه شي، زیـاتره خـو یـواځې پـه Paypal پیسې ورکوي، چې بدبختانه، په افغانستان کې Paypal کار نه کوي.



Scanned by CamScanner

ګوګل ایډسنس د ویسټرن یونین (خو افغانستان ته لا هم د دې لارې پیسې نه رالېږي)، وایر ټرانسفر او چیک له لارې تاسو ته پیسې درلېږي، چې په دې لارو تاسو د ګوګل ایډسنس پیسې ډېرې په اسانۍ ترلاسه کولای شئ.




## د ګوګل ایډسنس اکاونټ څنګه جوړولی شئ؟

د ګوګل ایډسنس د اکاونټ جوړولو لپاره تاسو ته دوه شیزونه ډېر مهم دي، یو دا چې یا خو تاسو داسې یوه وېبپاڼه یا بلاګ ولرئ، چې پوسټونه یې ټول ستاسو خپل وي، یعنې له بلې کومې وېبپاڼې یا بلاګ څخه مو کاپي کړي نه وي، ځکه چې په انټرنېټ د کاپي رایټ سسټم ډېر سخت دی او د نورو خلکو د پوسټونو په راکاپي کولو، ستاسو وېبپاڼه او بلاګ له مینځه تللی شي. نو چې پوسټونه مو خپل وي او داسې وي چې خلک یې لوستو ته راځي، ستاسو د وېبپاڼې او بلاګ SEO ښه شوي وي او د ګوګل لټون Google Search له لارې ورته هره ورځ نوي لیدونکي ډېر راځي، یعنې په زرګونو کې راځي، نو د دې لپاره بیا تاسو د ګوګل ایډسنس اکاونټ ته اپلای کولی شئ، چې له دې لارې تاسو په اسانۍ د ګوګل ایډسنس اکاونټ ترلاسه کولای شئ.

بله لار یې دا ده، چې تاسو په یوټیوب یو چېنل ولرئ، چرته چې تاسو خپلې جوړې کړې ویډیوګانې خپرې کړې وي او سبسکرایبر Subsribers او لیدونکي مو ښه وي، یعنې هره ورځ ستاسو اپلوډ کړې ویډیوګانې خلک ګوري، نو د دې لارې هم تاسو کولای شئ چې د ګوګل ایډسنس اکاونټ ته اپلای وکړئ.

ګوګل ایډسنس دوه ډوله اکاونټونه ورکوي، یو خو ګوګل ایډسنس دی، بل ګوګل ایډسنس هوسټډ اکاونټ دی.



Scanned by CamScanner

جلیل دادمن



**ګوګل اېډسنس اکاونټ:**

د ګوګل اېډسنس هغه اکاونټ، چې هوستېډ نـه وي، اوس يـو څـه پـه ګرانـه ورکوي، ګوګل اېډسنس ۲ میلیونه خلکـو تـه دا اکاونـټ ورکـړی دی او ۲ میلیونـه خلک د ګوګل اېډسنس اکاونټونه لري او له دې لارې پېسې ګټي.

د دې اکاونټ ګټه دا ده، چې د دې اعلانونه تاسو په هر ځـای کـې لګـولای شئ، يعنې په وېبپاڼه، بلاګ او يوټيوب، درېواړو ځايونو کې تاسو د دې اکاونټ تـه ګټه پورته کولای شئ.

نو د دې لپاره تاسو ته پکار دي، چې يوه ښه وېبپاڼه يا بلاګ ولرئ، چې هـره ورځ په زرګونو ليدونکي ورته د ګوګل لټـون Google Search نـه راځـي او ستاسـو وېبپاڼه يا بلاګ ګوري، بل دا چې Content مو معياري وي او له بل ځايه مو کاپي کړي نه وي.


**ګوګل اېډسنس هوستېډ اکاونټ:**

د Google Adsense Hosted اکاونټ ګوګل اېډسنس پـه اسـانۍ ورکـوي، په دې کې دومره ډېرې لانجې نه غواړي، د دې اکاونټ ترلاسه کولو لپاره تاسو ته پکار دي چې د يوټيوب يو چېنل ولـرئ، ستاسـو اپلـوډ کـړي ويـډيوګانې هـره ورځ ليدونکي ولري، نو له هغې وروسته تاسو دې اکاونـټ تـه اپـلای وکـړئ، نـو ګـوګـل اېډسنس يې درته ډېر زر جوړوي.

خو د دې اکاونټ يوه خامي دا ده، چې دا يواځې په يوټيوب کې کـار کـوي، د دې نه بيا تاسو په وېبپاڼه او بلاګ کې کار نه شئ اخستلای.

**د ګوګل اېډسنس اکاونټ Verify کول:**

کله چې تاسو د ګوګل اېډسنس اکاونټ لپاره اپلای وکړئ او په اوونۍ نيمـه کې تاسو ته اکاونټ درکړل شي، نو له هغې وروسته بيا ګوګـل اېډسـنس تاسـو تـه







Scanned by CamScanner

وایي، چې کله مو په دې اکاونټ کې ۱۰ ډالر جمع شول، نو له هغې وروسته تاسو په دې کې ایډیټنګ کولی شئ.

تر څو چې مو اکاونټ ته ۱۰ ډالر نه وي راغلي، نو تر هغې تاسو په دې کې څه شی ایډیټ کولای نه شئ.

کله چې مو اکاونټ ته لس ډالر راغلل، له هغې وروسته بیا تاسو دلته تللی شئ او د Payment Methods له لارې دلته د پیسو د رالېږلو انتخاب کولای شئ، چې ګوګل اېډسنس تاسو ته پیسې په کومه لار درولېږي، نو د هغې لپاره چې کوم معلومات وي، هغه به دغه ځای کې ورکړئ.



خو د دې نه ډېره مهمه دا ده، چې کله ستاسو اکاونټ ته ۱۰ ډالر راشي، نو بیا ګوګل اېډسنس تاسو ته د آدرس Verify کولو لپاره ستاسو په ادرس، کوم چې مو دغلته ورکړی دی، یو کارټ رالېږي، دغه کارټ لږ نه لږ یوه اوونۍ او زیات نه زیات درې اوونیو کې تاسو ته رارسېږي، دا مهم دی، کله چې دا تاسو ته راورسېږي، نو په دې کې یو لمبر Pin Code وي، د Pin Code دغه خانه د ګوګل اېډسنس په اکاونټ کې همداسې پاتې وي، چې دا درته راورسېده، نو بیا به دا Pin Code په هغه خانه کې ورکړئ، نو له دې وروسته به ستاسو اکاونټ Verify شي.

#فیلینګ: خو زما د اکاونټ تراوسه پورې ۶ میاشتې وشوې، چې دا کارټ ماته نه دی رارسېدلی.

افغانستان ته د دې کارټ راتلل لږ ګران دي، هغوی یې رالېږي، خو دلته



Scanned by CamScanner

جلیل دادمن



زموږ د پسته خانو سستم ډېر کمزوری دی، نو کارټ رارسي نه، زما کارټ په خپله تراوسه پورې نه دی رارسېدلی. کله چې ګوګل اېډسنس تاسو ته په لومړي ځل کارټ راولېږي، نو چې تر یوې میاشتې پورې راونه رسېږي، نو تاسو د دویم ځلي رالېږلو لپاره د خپل اکاونټ نه ورته بیا اپلای کولای شئ، چې په دویم ځل هم رانغلو، نو بیا یې په دریم ځل وکړئ، چې په دریم ځل هم رانغلو، نو له هغې وروسته ګوګل اېډسنس تاسو ته یو آپشن درکوي، چې هلته درنه تذکره، پاسپورټ یا د ډرایونګ لایسنس غواړي، (تذکره خو زموږ پښتو کې ده، نو په دې خو کار نه کېږي)، دلته غوره خبره دا ده چې تاسو خپل پاسپورټ سکېن کړئ او هلته یې ورته اپلوډ کړئ، نو له دې وروسته بیا تاسو په دې توانېدلی شئ چې د ګوګل اېډسنس نه پیسې ترلاسه کړئ.

کله چې د دې ټولو مرحلو نه راتېر شوئ، نو بیا خپلې وېبپاڼې، بلاګ یا یوټیوب چېنل ته کار ووایئ، ځکه چې ګوګل اېډسنس هره میاشت تاسو ته پیسې رالېږي، خو که د ۱۰۰ ډالرو نه کمې وي، نو بیا یې درته نه رالېږي، کله چې مو په دې اکاونټ کې ۱۰۰ ډالره جمع شي، نو بیا یې ګوګل اېډسنس تاسو ته رالېږي، په هغه لار، چې کومه تاسو هلته په Payment Methods کې ورکړې وي.

د ګوګل اېډسنس اعلانونه چې څومره ستاسو په وېبپاڼه، بلاګ یا یوټیوب چېنل خلک ګوري، نو تاسو ته په سلو کې ۶۸% برخه درکوي، یعنې د اعلانونو ۳۲% فیصده یې ګوګل اېډسنس اخلي او ۶۸% یې تاسو ته درکوي. مطلب چې ستاسو اکاونټ ۱۰۰ ډالر وګټي، نو ۶۸ ډالر یکې ستاسو او ۳۲ ډالر یکې د ګوګل اېډسنس دي.

داسې نور هم ډېر شرکتونه یا وېبپاڼې شته، چې هغوی تاسو ته د دې نه هم ډېره فیصدي درکوي، خو که چېرې تاسو په داسې هېواد کې یئ، چې هلته د نورو دغه وېبپاڼو اکاونټونه سهي کار کوي او پیسې یې ترلاسه کول اسان وي، نو بیا تاسو له هغې هم ګټه پورته کولای شئ، خو زه چونکې له تېرو ۶ کلونو راهیسې له ګوګل اېډسنس ګټه پورته کوم، نو ستاسو لپاره به، زما په خیال، هم دا د ګوګل اېډسنس اکاونټ غوره وي.




Scanned by CamScanner

جلیل دادمن



## يوټيوب اکاونټ جوړول:




د يوټيوب اکاونټ جوړول ډېر اسانه دي، کله چې تاسو په Gmail کې خپل برېښناليک ولرئ، نو YouTube.com ته ورشئ او هلته يواځې په Sign In کلک وکړئ، تاسو ته به يو آپشن راشي او درته به ووايي، چې د يوټيوب اکاونټ لپاره مو نوم وليکئ، نوم به وليکئ او د يوټيوب اکاونټ به مو جوړ شي.

کله چې مو په يوټيوب کې چېنل جوړ شو، نو پروفايل او د چېنل آرټ انځور ورته پورته کړئ (ضروري هم نه دی، خو پکار ده چې ورته اپلوډ شي)، وروسته له هغې که غواړئ چې څه ضروري سيټنګ يې وکړئ، نو هغه هم ډېر اسانه دی، خپله پوهېږئ.

وروسته له هغې ورته ويډيوګانې اپلوډ کړئ.

خو، دا درسره ياد ولرئ، چې خپل چېنل ته به هيڅ کله هم د بل چا ويډيوګانې نه اپلوډ کوئ، ځکه چې يو څيز ستاسو خپل نه وي، نو د يوټيوب اداره تاسو ته د دې اجازه نه درکوي، چې د بل چا څيز اپلوډ کړئ او اېډسنس پرې ولګوئ، ځکه د يوټيوب د کاپي رايټ قانون ډېر



Scanned by CamScanner

سخت دی، هغوی اول خو ویډیو ډیلیټ کوي، که بیا هم داسې کار وشي، نو بیا چېنل له مینځه وړي او ستاسو کوم بړېښنالیک چې دی، هغه په یوټیوب کې Ban کوي.

نو خپلې ویډیوګانې ورته اپلوډ کړئ، په خپلو ویډیوګانو د داسې میوزک لګولو نه ډډه وکړئ، چې کاپي رایټ وي، یوټیوب تاسو ته وړیا میوزک درکوي، چې تاسو ترې په ویډیوګانې کې ګټه اخستلای شئ.

#میوزک: د خپل چېنل Dashboard ته چې لاړ شئ، نو ګس اړخ ته، لاندې به یې Create لیکلي وي او د ویډیو نښه به هم ورسره وي، په دې چې کلک وکړئ، نو دلته بلهاشي وړیا میوزک پروت دی.

خپلو ویډیوګانو ته سرلیک، ډسکرپشن، ټېګونه او کټېګوري حتماً ورکړئ او اپلوډ یې کړئ.

#مشوره: کله چې هم خپله ویډیو اپلوډ کړئ، له هغې وروسته یې په ټولنیزو رسنیو، لکه فېسبوک، ټویټر او ګوګل پلس، لنک حتماً شئیر کوئ، چې د دغه لنک د لارې خلک یوټیوب ته راشي او ستاسو ویډیو وګوري.

نو څومره چې ستاسو سبسکرایبر Subscriber او لیدونکي Views سېوا کېږي، هغه هومره به ستاسو چېنل مخ په وړاندې ځي، ځینې څیزونه په یوټیوب کې داسې وي، چې هغه په لومړي سر کې کار نه کوي، یعنې Disableوي، څومره چې ستاسو چېنل مخکې ځي، همداسې به ورسره تاسو دا څیزونه Enable کوئ، چې په دې کې یو Monetization هم دی، کله چې مو Monetization اینېبل کړ، نو وروسته له هغې د Dashboard نه لاندې وګورئ، تاسو ته به Channel ښکاره شي، په هغې کلک وکړئ، په دې کې لاندې د Monetization آپشن به راښکاره شوی وي، په دې کلک وکړئ او خپل چېنل د خپل ګوګل اېډسنس اکاونټ سره وصل کړئ، تر څو ستاسو د یوټیوب په چېنل Monetization ولګوي او چې بیا وروسته له دې، ستاسو ویډیوګانې څومره خلک ګوري، نو د هغې په حساب به ستاسو په اکاونټ کې پیسې جمع کېږي.

**یادښت:** د یوټیوب په اکاونټ کې پیسې د هرې ورځې په اخر کې سېوا کېږي، خو دا بیا د میاشت په اخر کې د ګوګل اېډسنس اکاونټ ته لېږلی کېږي، چې هغوی یې بله میاشت بیا تاسو ته ستاسو د Payment Method له لارې درلېږي.



Scanned by CamScanner

## د بلاګ جوړول:





کـه تاسـو غـواړئ چـې ځـان تـه وېبپاڼه جوړه کړئ، نو بیا خو له یو چا سره خبره وکړئ، هغوی چې د وېبپاڼې څومره پیسې اخلي، هغه به درنه واخلي او تاسو ته به وېبپاڼه جوړه کړي.

خو که زړه مو وي، چې د بلاګ له لارې په انټرنېټ کار پیل کړئ، (مشوره: دا بـه ستاسـو لپـاره ځکـه ښـه وي، چې وړیا دی، نو د پیسـو د لګولـو نـه بـه بچ شئ) نو بیا دلته درته د بلاګ د جوړولـو په اړه ځیني معلومات درکوم.

کله چې تاسو د Gmail اکاونټ جوړ کړئ، نـو پـه دې کـې دا سـهولت دی، چې د ګوګل څومره هم نـورې وېبپـاڼې دي، ټولـو کـې نبـغ پـه نبغـه د Gmail نـه اکاونټونه جوړېږي.

همداسې تاسو blogger.com ته ورشئ او هلته پـه Sign Up کلـک وکـړئ، هغوی درنه نوم وغېره غواړي او په څو ثانیو کې ستاسو د بلاګر اکاونټ جوړېږي.

دلته د New Blog په آپشن کلک وکړئ، یـو بـاکس بـه درتـه راخـلاص شي،




هلتـــه پـــه Address خانه کې د بلاګ لپـاره ادرس ورکړئ (یادونه: که دغه ادرس بـل چـا مخکې نه و جوړ کړی، نو بلاګ بـه جـوړ شي، کـه مخکـې نـه ادرس راجستر و، نو بیا تاسـو ادرس بـدل کـړئ)، د دې نـه پـه پـاس خانـه



Scanned by CamScanner

کې Title ورکړئ، Theme ورته غوره کړئ او د Create Blog! بټنې ته ټک ورکړئ او خپل بلاګ جوړ کړئ.

په دې طریقه خپل بلاګ جوړ کړئ، دا یو Simple بلاګ دی، که بیا تاسو خپل بلاګ ته نور ډیزاینونه پیدا کول غواړئ نو په په انټرنېټ بلها شی وېبپاڼې شته، چې هغوی د بلاګر لپاره ورپا ډیزانونه ورکوي، د هغې لارې تاسو کولای شئ چې خپل بلاګ ته شکلی او خوندور ډیزاین غوره کړئ.

په بلاګ کې د لیکنې، ویډیو او انځور خپرولو سره دا هڅه کوئ، چې د بلې وېبپاڼې یا بلاګ نه څه شی کاپي نه کړئ، ځکه ګوګل د کاپي رایټ ډېر سخت قانون لري او د هغوی یو ماشین یواځې د همدې لپاره تولې وېبپاڼې او بلاګونه ګوري، چې څه شی خو به چا کاپي کړی نه وي.

که تاسو غواړئ چې د یو بل چا لیکنه کاپي کړئ، نو د هغې اسانه طریقه دا ده، چې هماغه لیکنه راواخلئ، یا یې په خپلو تورو کې ولیکئ او یا یې هم لنډیز ولیکئ او بیا په خپل بلاګ یا وېبپاڼه کې خپره کړئ.

په ګوګل کې د بلاګ SEO هم په اسانۍ کولای شئ، خو که غواړئ چې خپل بلاګ په ګوګل لټون Google Search کې په لومړي سر کې راولئ، نو د هغې لپاره پکار ده، چې تاسو په SEO کې Expert یئ.

#نوټ: د بلاګ د جوړولو، سیټنګ او په بلاګ کې چې نور څومره څه کېږي، هغه ټول تاسو زما د یوټیوب په چېنل **Learn With Rahmat Dewan** کې کتلای شئ، هلته د بلاګ د جوړولو په اړه یو پوره کورس ما اپلوډ کړی دی.

په انټرنېټ د یو څو اکاونټونو جوړولو په اړه دا خبرې ما بره وکړې، په دې ټولو کې ما په خپله کار کړی دی، د تېرو ۶ یا ۷ کالو راهیسې یې په خپله کاروم، نو ځکه مې د دې په اړه تاسو ته معلومات درکړل، چې له ستونزو سره مخ نه شئ.

نور چې د انټرنېټ په مخ تاسو هر چېرې ځان ته اکاونټ جوړوئ، نو په همدې طریقه په هر ځای کې اکاونټ جوړېږي، هر ځای کې د (Sign Up) او (Join Us) بټنې وي، چې د هغې له لارې تاسو په دغه وېبپاڼو کې ځان ته اکاونټونه جوړولای شئ او ګټه ترې اخستلای شئ.



Scanned by CamScanner

# له انټرنېټه د پیسو ګټلو ۶۰۰ لارې

خلک وايي، چې انټرنېټ د پیسو ګټلو یو ماشین جوړ شوی دی. ویل کېږي، چې په نړۍ کې څومره کرنسي پرته ده، د هغې نه ډېره د انټرنېټ په نړۍ کې پرته ده. د انټرنېټ په نړۍ کې د ټریلین ډالرو نه هم زیاتې پیسې پرتې دي. په زرګونو شرکتونه انلاین سرویسونه ورکوي، په ملیونونو وګړي د انټرنېټ په دې نړۍ کې کارونه کوي او په ټریلینونو ډالر پکې مصرفېږي او پېر او پلور پکې کېږي.

د انټرنېټ دا نړۍ ډېره په تېزۍ سره روانه ده او د نورو کاروبارونو پر ځای په انټرنېټ کاروبارونه ورځ تر بلې سېوا کېږي او ورځ تر بلې مخکې روانه ده، نو تاسې دې ولې په دې نړۍ کې نه یئ او ولې دې د انټرنېټ له لارې انلاین پیسې ونه ګټئ؟

راځئ! چې په دې کتاب کې په هغه ۶۰۰ لارو خبرې وکړو، تاسو ته د هغه ۶۰۰ لارو معلومات درکړو او وه مو پوهوو، چې څنګه د دې ۶۰۰ لارو څخه تاسې په انټرنېټ پیسې ګټلای شئ.

که په دې شپږ سوه لارو کې هم تاسې ناکامېږئ، نو دا بیا ستاسې ناکامي ده، ځکه چې په انټرنېټ نن سبا له دې هم ډېرې لارې دي، چې ځینې یې ګرانې او ځینې یې ډېرې اسانې دي، چې سړی ترې پیسې وګټي.

نو په مخکې راتلونکو مخونو کې په همدې ۶۰۰ لارو باندې خبرې کوو، چې څنګه د انټرنېټ نه پیسې ګټلای شو.

د انټرنېټ نه د پیسو ګټلو پوره لیست په راتلونو پاڼو کې لیدلی شئ. له دې پرته به هم ډېرې لارې وي، چې زما به تر نظره نه وي راغلي، داسې ډېرې نامعلومې لارې به نورې هم وي، خو ما به نه وي پیدا کړې، چې خلک ترې پیسې ګټي، خو که چېرې زما په نظر کې راغلې یا مې وروسته پیدا کړې، نو هڅه به وکړم چې په دویم چاپ کې یې په دې کتاب کې ورزیاتې کړم.

په دې لیست کې په ځینو کې ما په خپله هم کار کړی دی او په خپله مې



Scanned by CamScanner

ترې ډېر وخت پېسې ترلاسه کړې دي، نو د دې زه تاسې ته یقین درکوم، چې له دې لارې تاسې پېسې ګټلای شئ، ما چې له کومو لارو پېسې نه هم دي ګټلي، خو په ملیونونو خلک لګیا دي او دلته کار کوي او له دې لارې پېسې ګټي. په دې لیسټ کې به زه هڅه وکړم چې د ځینو په اړه بشپړ معلومات درکړم او هم هغې ته ورته د ځینو لارو په اړه یواځې د وېبپاڼې ادرس ورکړم، چې هم د نورو وېبپاڼو سره به سمون خوري.



Scanned by CamScanner

جلیل دادمن




# د اعلانونو Ad Networks

# له لارې پیسې ګټل

**Ad Networks څه شی دی؟**

د انټرنېټ په نړۍ کې بلها شی شرکتونه دي، چې هغه وېبپاڼو تـه اعلانونـه ورکوي، هغې ته Ad Networks ویل کېږي.

په انټرنېټ په Ad Networks کې ډېر لوی کاروبـار روان دی، لـه دې لارې په میلیونونه ډالر هره ورځ مصرفېږي او ډېری خلـک یکـې هـره ورځ پـه میلیونونـه ډالر ترلاسه کوي.




پـه دې Ad Networks کـې ځینـې مشـهور یـې د ګوګـل اېډسـنس، میډیا.نېټ، بای سېل اېډز او داسې نور دي، چې هغوی دا کار کوي.


که تاسې غواړئ چې خپل اعلان په انټرنېټ ورکړئ، نو لازمي ده چې د Ad Networks له یو شرکت سره به اړیکه نیسئ، هغوی ته به خپل اعلان ورکوئ، بیا یې هغوی مخکې هغه خلکو ته ورکوي، چـې لـه دوی سره راجسـتر وي او یـا یـې د دوی په وېبپاڼه کې اکاونټ پرانستی وي. کلـه چـې دوی لـه تـا څخـه یـا لـه هغـه شرکت څخه چې هغوی غواړي خپل اعلان په انټرنېټ خپور کړي، اعلان واخلي او بیا یې مخکې نورو بلها شی وېبپاڼو ته ورکړي، چې هغوی یـې پـه خپلـه وېبپاڼـه یـا بلاګ خپروي او چې څومره خلک د دې اعلان له لارې هغـه اعـلان ورکـوونکي تـه



Scanned by CamScanner

ورځي او یا يې څومره خلک ويني، نو هغوی ته به خلک ورځي او د Ad Networks شرکت به ترې پېسې اخلي، د هغوی چې څه برخه وي، هغه به تـرې هغـوی اخـلي او کومو وېبپاڼو یا بلاګونو ته چې يـې ورکـړې وي، د هغـوی چـې پکـې څـه برخـه جوړېږي، هغه هغوی ته ورکوي.


د يـو Network کـار دا وي چـې د Advertisers نـه اعـلان واخـلي او پـه




Publishers يـې تقسـيم کـړي او د هغـوی لـه لارې يـې خلکـو تـه ورسـوي. يـو Network بل Network ته هم اعلانونـه ورکـوي، تـر څـو د هغـوی سره راجسـتر Publishers يې په خپلو وېبپاڼو خپور کړي.

### ۱-: ګوګل ایډسنس Google Adsense:


په انټرنېټ د پېسو ګټلو د ټولو نه اسانه لاره دا ده، چـې ځـان تـه بـلاګ یـا وېبپاڼه جـوړه کـړئ او د ګوګل اعلانونه Google ads پـرې ولګـوئ، چـې څـومره زیـات لیـدونکي مـو پـاڼې تـه راځـي، نـو دومـره زیـاتې پېسـې بـه ګټئ.







Scanned by CamScanner

د ګوګل اېډسنس Google Adsense په اعلانانو چې څومره کلکونه Clicks او لیدنې Impressions راځي، نو د هغې په حساب دوی تاسې ته پیسې درکوي.




د یوې اندازې له مخې، د ۲ میلیونو نه سېوا خلک د ګوګل اېډسنس اکاونټونه لري او له دې لارې ځان ته پیسې پیدا کوي.

ګوګل اېډسنس تر ټولو ښه ځکه دی، چې یو خو له هر هېواد څخه د ګوګل اېډسنس اکاونټ جوړولای شئ، دویمه دا چې د نړۍ هر یو هېواد ته د ویسټرن یونیون، وایر ټرانسفر او چیک له لارې پیسې لېږي، نور زیاتره داسې دي چې هغوی یواځې د Paypal له لارې پیسې ورکوي، چې Paypal په ډېرو هېوادونو کې کار نه کوي.




دا د ټولو نه اسانه او ښه لاره ده، چې په دې لارې تاسې په کور ناست، انلاین پیسې وګټئ.

### ۲-: انپولنکس.کام Infolinks.com:


انپولنکس یوه بله لاره ده، چې دوی هم په وېبپاڼه او بلاګ شکاره کېدونکي اعلانونه ورکوي، دا اعلانونه هم تاسې په خپله وېبپاڼه او بلاګ کې لګولای شئ، چې ستاسو د پوسټونو سره سم اعلانونه به پرې خپرېږي او



Scanned by CamScanner


تاسې ته به پېسې د ویسټرن یونیون او یا هم د پی پال Paypal له لارې رالېږي.

Infolinks وایي چې ورسره ۱۰۰۰۰۰ (سل زره) وېبپاڼې راجستر دي او هره ورځ ورته ۲٤۰ میلیونه نوي لیدونکي راځي. دوی چې کوم اعلانونه په دې وېبپاڼو




خپروي، دا هره میاشت یو نیم بیلیون لیدونکي لري.

انپولنکس د نړۍ شپږم لوی Advertising Network دی، چې د نړۍ لوی



لوی شرکتونه له دوی سره راجستر دي او خپل اعلانونه دوی ته ورکوي.


### ۳-: میډیا.نیټ Media.net:

دا د یاهو Yahoo او بینګ Bing.com شریک شرکت دی، چې اعلانونه ورکوي. د ګوګل اېډسنس نه دلته ډېرې پېسې ګټلای شئ، ځکه چې دوی د ګوګل اېډسنس نه یو څه زیاتې پېسې ورکوي. دا یو CPM نېټورک دی، چې ستاسو د وېبپاڼې او بلاګ د لیدونکو یا لیدنو Impressions په حساب پېسې ورکوي.




Scanned by CamScanner

میډیا.نېټ خپل اعلانونه په هېوادونو هم وېشلي دي، ځینو هېوادونو کې ډېره فیصدي ورکوي او ځینو کې لږه، یعنې که یو کس ستا وېبپاڼې ته له امریکې راشي او هلته دغه اعلان وګوري او کلک پرې وکړي، نو تاسو ته به ۹۰% فیصده درکوي، خو که د نورې ټولې نړۍ نه څوک راشي او کلک پرې وکړي، نو بیا تاسو ته ۵% فیصده درکوي.




دوی خپله فیصدي د ډیوایسونو په اړه هم وېشلې ده، کله چې یو څوک له موبایل نه راشي او په یو اعلان کلک وکړي، نو تاسې ته یې ۵۲% فیصده درکوي او چې د ډیسکټاپ کمپیوټر یا لیپټاپ نه راشي نو بیا تاسې ته ۴۸% فیصده درکوي.






دا Network د ۱۰۰ میلیونو نه زیاتو خلکو ته رسېدلی دی او په ۲۰۱۵ کال کې دې نېټورک ۲۳۲ میلیونه ډالر ګټلي دي او په اعلانونو یې خلکو ته ۴۵۰ میلیونه ډالر ورکړي دي. د میډیا.نېټ سره یو چینایي شرکت په ۲۰۱۶ کال کې یو قرارداد لاسلیک کړی و، چې د ۹۰۰ میلیونه ډالرو قرارداد و.




Scanned by CamScanner

### ۴-: بای سېل اډز.کام BuySellAds.com:

بره چې کومې درې لارې یادې شوې، په هغې کې داسې ده چې هغوی په خپله خوښه ستاسو وېبپاڼې او بلاګ ته اعلانونه درکوي او له هغه ځایه پیسې خپرېږي، خو بای سېل اډز بیا نېغ په نېغه د اعلان ورکوونکي سره اړیکه لري.

دلته چې کله تاسې اکاونټ جوړ کړئ، نو بیا به په خپله وېبپاڼه کې یو ځای کې خالي ځای د اعلان لپاره پرېږدئ، که څوک وغواړي چې ستاسو په وېبپاڼه خپل اعلان خپور کړي، نو هغوی به دغه لنک ته ټک ورکړي او هلته به ولاړ شي او له هغه ځایه به ستاسې په وېبپاڼه باندې خپل اعلان ولګوي.




بای سېل اډز په ۲۰۱۱ کال کې د ۴۰۰ زره ډالرو بیه لرله، چې له هغې وروسته هم مخ پر وړاندې روانه ده.


نو دا هم ستاسې لپاره یو ډېر ښه، اسان او خوندور ځای دی، چرته نه چې تاسې پیسې ګټلای شئ.

### ۵-: چیتیکا.کام Chitika.com:

دا یوه بله پاڼه ده، چې په وېبپاڼه او بلاګونو ښکاره کېدونکي اعلانونه ورکوي او تاسې د دې لارې هم پیسې ګټلای شئ.




Scanned by CamScanner




د دې وېبپاڼې نه اعلانونه اخستل ډېر اسانه دي، بس فقط هلته خپل اکاونټ جوړ کړئ او له دې لارې پیسې وګټئ.
د اعلانونو دا شرکت په ۲۰۰۳ کال کې جوړ شوی و، چې هغه وخت یې ٤ میلیونه ډالره بودیجه وه، نو فکر کوئ چې اوس به څومره پیسې دوی ګټي او Publishers ته به څومره پیسې ورکوي.

### ٦-: بِډوَرټایزر.کام :Bidvertiser.com

دا نېټورک هم د چیټیکا.کام په څېر دی، او تاسې له دې ځایه هم په خپله وېبپاڼه او بلاګ اعلانونه اخستلای شئ، تر څو په خپل بلاګ او وېبپاڼه یې شکاره




کړئ او پیسې وګټئ.
دا یو بل انلاین پروګرام دی، چې کارول یې اسان او وړیا دي.

### ۷-: ټرایبل فیوسیون.کام :TribalFusion.com

TribalFusion.com یا exponential.com نېټورک هره ورځ ۲۳۰ میلیونه کتونکي لري. ټرایبل فیوسیون د اعلانونو یوه بله لویه اېجنسي ده، دلته تاسې فقط خپله وېبپاڼه د منلو لپاره ورکړئ، تر څو هغوی یې وګوري، چې د هغوی په شرطونو پوره ده او که نه، چې کله ستاسې وېبپاڼه د هغوی په شرطونو پوره وي، نو



Scanned by CamScanner

بیا یې هغوی منې او ستاسې په وېبپاڼه خپل اعلانونه خپروي او له دې لارې ښې ډېرې پیسې ترلاسه کولای شئ.

دا وېبپاڼه هم لوی لوی شرکتونو سره Partnership لري، لکه Vodaphone، ټویوټا، سوني، سکای، شیل، سانوفي، Philips، نوکیا، نسان، نیسټلی، مایکروسافټ، مزدا، ماسټر کارت او داسې نور بې شمېره شرکتونه دي، چې د هغوی اعلانونه له دې وېبپاڼې سره دي او کله چې تاسې د Publisher په توګه دلته ځان ته اکاونټ پرانیزئ نو بیا به هغه اعلانونه ستاسو په بلاګ یا وېبپاڼه دوی خپروي.

## ۸-: تبوله.کام Taboola.com:

نوې راغلې ده، خو ډېره مشهوره ده، دا نېټورک اوس په پبلشرانو (هغه کسان چې اعلانونه په خپلو وېبپاڼو یا بلاګونو خپروي) کې ډېره مشهوره شوې ده. دوی دا سهولت ورکوي، چې اعلانونه یې لاندې د تبصرو په ځای کې خپاره شي او کله چې د دې وېبپاڼې نه ستاسې په بلاګ یا وېبپاڼه کې اعلانونه خپاره شي، نو وه به ګورئ چې څومره ډېرې پیسې ورکوي.

تبوله وېبپاڼې د ۲۰۱٦ د مې په میاشت کې ویلي دي، چې په ټوله نړۍ کې ۱ بیلیون بې ساري لیدونکي لري، چې پکې ۲۵۰ میلیونه د موبایلو له لارې راځي.



Scanned by CamScanner

جلیل دادمن




### ۹-: کونټیره. کام Kontera.com:

Kontera

یو بل د اعلانونو لوی نېټورک، کوم چې ستاسو لیکنو ته اعلانونه درکوي، دا نېټورک یواځې د لیک اعلان text-based ads ورکوي، خو له دې لارې هم تاسې ډېرې پیسې ګټلای شئ.

### ۱۰-: اډرول. کام Adroll.com:

لکه چې د نوم نه یې ښکاري، دا هم د اعلانونو یو ډېر ښه نېټورک دی. له دې لارې هم تاسې پیسې ګټلای شي، که چېرې دغه پاسني کار ونکړي او یا یې ستاسې کار ونه شي، نو بیا Adroll.com ته ورشئ او له دې لارې پیسې وګټئ.




Adroll نه یواځې دا چې د Advertisers اعلانونه خپلو Publishers ته ورکړي، دوی په خپله هم د خلکو اعلانونه په ټولنیزو رسنیو او ګوګل باندې خپروي.

د اډرول وېبپاڼې سره د ۳۰۰۰۰ نه سېوا Advertisers دي، چې د هغوی اعلانونه له دې ځایه دوی Publishers ته ورکوي.



Scanned by CamScanner

د Ad Networks ځینو نورو وېبپاڼو لیسټ:

۱۱-: ۷سرچ.کام 7search.com:

دا وېبپاڼه هم ډېر په اسانه اکونټ ورکوي. دا وېبپاڼه درې ډوله اعلانونه ورکوي، یو یې Display Ads دي، چې په بلاګ یا وېبپاڼه ښکاره کېږي، دویم یې Pay-Per-Clicks Ads دي چې په اعلان د کلک له لارې پیسې ورکوي او دریم یې Mobile Ads دی، چې دوی د موبایلو لپاره هم ځانګړي اعلانونه ورکوي.

۱۲-: ایډورټایز.کام Advertise.com:

ایډورټایز.کام یوه بله وېبپاڼه ده، چې پبلشرانو یا هغه کسان، چې وېبپاڼې او بلاګونه لري او لیدونکي یې ډېر وي، ته ډېر په اسانه اکاونټ ورکوي، تر څو له دې ځایه پیسې وګټي.

۱۳-: ایزانګا.کام Ezanga.com:

ایزانګا یوه بله وېبپاڼه ده، چې د Pay Per Click Advertising، Pay Per Call Advertising، Display او Search Engine Management سهولتونه ورکوي. دا هم یوه ښه وېبپاڼه ده، چې تاسې ترې د خپلې وېبپاڼې یا بلاګ لپاره اعلانونه ترلاسه کولای شئ.

۱٤-: ریوکونټینټ.کام Revcontent.com:

دا وېبپاڼه هم د پبلشرانو لپاره ډېره اسانه او ساده ده، دوی وایي چې هره میاشت ورته ۲۵۰ بیلیونه مواد ورپېژندل کېږي. نو له دې هم ګټه اخستلای شئ.

۱۵-: اډنولج.کام Adknowledge.com:

دا هم د انلاین مارکیټنګ یوه ښه وېبپاڼه ده، چې پبلشرانو ته اسانتیاوې ورکوي. دا وېبپاڼه د نړۍ په پنځوس هېوادونو کې خپل کار کوي.

۱٦-: ټي اېل وي میډیا.کام tlvmedia.com:

د مارکیټنګ لپاره ښه او اسانه وېبپاڼه، چې د خپلو وېبپاڼو او بلاګونو لپاره



Scanned by CamScanner

ترې اعلانونه اخستلای شئ.

**۱۷-: ۵۰اونرېډ.کام 50onred.com:**

دا وېبپاڼه وايي، چې ښه کار وکړئ، ډېر ليدونکي خپلو وېبپاڼو او بلاګونو تـه راولئ، تر څو زموږ اعلانونه وګوري، نو موږ به تاسې ته ډېره ګټه درکړو.

**۱۸-: ماټومي.کام matomy.com:**

مـاټومي ميـډيا ګـروپ هـم ستاسـې د وېبپـاڼې او بلاګونـو لپـاره د اعلانونـو ورکولو يو ډېر ښه ځای دی، وې ګورئ او ګټه ترې ترلاسه کړئ.

**۱۹-: پُلس۳۶۰.کام pulse360.com:**

دا هم د مارکيټنګ وېبپاڼه ده، چې ښو وېبپاڼو او بلاګونو ته، چـې ليـدونکي يې زيات وي، اعلانونه ورکوي.

**۲۰-: کريټيو.کام criteo.com:**

دا هم يوه ښه او اسانه وېبپاڼه ده، چې پبلشرانو تـه ډېـر پـه اسـانه اکاونټ ورکوي. دلته ۱۴۴۰۰ Advertisers دي، چې د ټولې نړۍ ۹۰ هېوادونه پکـې شـامل دي، چې دوی خپل اعلانونه دلته ورکړي دي. په ۲۰۱۶ کال کې دې وېبپاڼې د ۹۰۰ بيليونو نه سېوا اعلانونه پبلشرانو ته ورکړي دي.

**۲۱-: کلکسور.کام clicksor.com:**

کلکسور.کام هـم ستاسـې لپـاره يـو ښـه ځـای دی، دلتـه ۱۵۰ زره پبلشـران اکاونټونه لري، دا وېبپاڼه پـه ۱۹۶ هېوادونـو کـې کـار کـوي، دوی ۳۰۰۰۰۰ سـاعته اعلانونه په بېلا بېلو وېبپاڼو او بلاګونو لګولي دي او وايي چې هره مياشت ورتـه ۱۰ زره نوي Advertisers راځي.

**۲۲-: کنورسنټ ميډيا.کام conversantmedia.com:**

دې وېبپاڼې سره د ۵۰۰ نه سېوا Advertisers شرکتونه دي، دوی په وېبپاڼه



Scanned by CamScanner

او بلاګ ښکاره کېدونکو اعلانونو سربېره ویډیو اعلانونه او په پوره پاڼه ښکاره کېدونکي اعلانونه هم ورکوي او یو شمېر نور اعلانونه هم دلته ترلاسه کولای شئ.

**۲۳-: اېکسپونېنشل.کام exponential.com:**

دا هم د پبلشرانو لپاره یو ښه ځای دی، چرته نه چې دوی د خپلو وېبپاڼو او بلاګونو لپاره اعلانونه ترلاسه کولای شي.

**۲۴-: سایټ سکاوټ.کام sitescout.com:**

د دې وېبپاڼې نه هم تاسې د خپلو وېبپاڼو او بلاګونو لپاره اعلانونه ترلاسه کولای شئ.

**۲۵-: نیشینېن.کام gnitionone.com:**

دا وېبپاڼه هم ستاسې وېبپاڼو او بلاګونو ته اعلانونه ورکوي، تر څو تاسې ترې ګټه ترلاسه کړئ.

**۲۶-: مارکیټ.ایپوم.کام market.epom.com:**

د وېبپاڼو او بلاګ لرونکو لپاره یو بل خوندور ځای دی، چرته چې په زرګونو Advertisers شته او خپل اعلانونه یې دلته ورکړي، تر څو Publishers ته یې ورکړي.

**۲۷-: ډي اېن ټي اېکس.کام dntx.com:**

دلته نه هم د خپلو وېبپاڼو او بلاګونو لپاره په ډېره اسانه توګه اعلانونه ترلاسه کولای شئ.

**۲۸-: ټرېفک وینس.کام trafficvance.com:**

د دې وېبپاڼې سره ۱۵۰۰ ثبت شوي Advertisers دي، دوی په وېبپاڼه یا بلاګ د ښکاره کېدونکو اعلانونو نه پرته د لنک او ویډیو اعلانونه هم Publishers



Scanned by CamScanner

جلیل دادمن



ته ورکوي. دلته نه هم د خپلو وېبپاڼو او بلاګونو لپاره درې ډوله اعلانونه ترلاسه کولای شئ.

### ۲۹-: اېډ انګېج.کام adengage.com:

دا وېبپاڼه هم یو له هغو څخه ده، چې په میلیونونو اعلانونه لري، دوی د Advertisers مشهور پوستونه هم ستاسې په وېبپاڼو شايي، تر څو خلک يې هلته وګوري، کلک پرې وکړي او تاسو ته يې پیسې درکړي.

### ۳۰-: پوکېټ سينټس.کام pocketcents.com:

یوه بله وېبپاڼه، چې د خپلو وېبپاڼو او بلاګونو لپاره تري اعلانونه ترلاسه کولای شئ، دلته هم په زرګونو Advertisers شته، چې اعلانونه يې ستاسو د وېبپاڼو او بلاګونو په تمه دي.

لاندې د نورو هغه وېبپاڼو لیسټ دی، چې Ad Networks کې راځي او دوی پبلشرانو یا وېبپاڼو او بلاګونو ته اعلانونه ورکوي.

۳۱-: adblade.com
۳۲-: adsmonster.com
۳۳-: adbrite.com
۳٤-: kontextua.com
۳۵-: resultlinks.com
۳٦-: rocketfuel.com
۳۷-: outbrain.com
۳۸-: adlandmark.com
۳۹-: miva.com
٤۰-: contextweb.com
٤۱-: affinity.com
٤۲-: industrybrains.com
٤۳-: clickbooth.com
٤٤-: cpxi.com
٤۵-: superlinks.com
٤٦-: inmobi.com
٤۷-: millennialmedia.com
٤۸-: airpush.com
٤۹-: vibrantmedia.com
۵۰-: leadbolt.com
۵۱-: advertising.apple.com
۵۲-: mobvista.com
۵۳-: perfectaudience.com
۵٤-: change.com
۵۵-: trafficforme.com
۵٦-: looksmart.com



Scanned by CamScanner

dynamicoxygen.com :-٥٧
admanage.com :-٥٨
taggify.com :-٥٩
blogads.com :-٦٠
sulvo.com :-٦١
revenuehits.com :-٦٢
undertone.com :-٦٣
medianexusnetwork.com :-٦٤
haxhax.com :-٦٥
propellerads.com :-٦٦
pulsepoint.com :-٦٧
wwwpromoter.com :-٦٨
adfocused.com :-٦٩
adhitz.com :-٧٠
youtube.com :-٧١
dailymotion.com :-٧٢
tune.pk :-٧٣

**یادښت:** تاسو دغه بره ورکړل شوې ټولې وېبپاڼې وګورئ، دا ټولې هغه نېټورکې دي، چې په وېبپاڼه او بلاګ ښکاره کېدونکي اعلانونه ورکوي. کله چې په پاس یادو شوو نېټورکو کې هر یو ته ولاړ شئ، نو هلته به تاسې ته یوه بټنه ښکاري، د (Join the Network) نو د دغې بټنې په کېکاږلو سره دغلته ځان ته اکاونټ جوړ کړئ او د پیسو په ګټلو پیل وکړئ.



Scanned by CamScanner

جلیل دادمن



# د Freelance له لارې پېسې ګټل

**۷۴-: آفورک.کام Upwork.com:**

آف ورک د فري لانس د نړۍ تر ټولو ستر ځای دی. دې وېبپاڼه کې په میلیونونو خلک فري لانس کار کوي او په میلیونونو مشتریان پکې دي، چې فري لانس کارونه ترې ترلاسه کېدای شي.

د آفورک.کام نه د پېسو ګټلو لپاره، تاسې ته پکار ده چې دلته ځان ته اکاونټ پرانیزئ (چې وړیا دی) او بیا چې تاسې کوم کار کولای شئ، هغې ته اپلايي وکړئ.




په انځور کې تاسې د آفورک ځینې هغه کټېګورۍ لیدلای شئ، چې دلته دا دا کارونه ترسره کېږي، له دې پرته هم چې په انلاین نړۍ کې څه کار وي، دلته به يې مشتریان او کارکوونکي دواړه وي.

آفورک خپلو مشتریانو ته وايي، چې یو کس وګورئ، د هغه پروفایل وګورئ چې ستاسې د کار وړتیا لري، بیا يې هایر کړئ، کار پرې وکړئ، خپل کار وګورئ او پېسې ورکړئ.

آفورک د ۵ میلیونه نه سېوا مشتریان لري، چې تاسې ته کارونه درکوي.




Scanned by CamScanner

جلیل دادمن



### ۷۵-: فایور.کام Fiverr.com:

فایور د فري لانسرز کسانو لپاره داسې یوه اسانه وېبپاڼه ده، چې هلته دوی ځانونه او خپلې وړتیاوې ښکاره کولای شي، تر څو مشتریان ځان ته راواړوي او کارونه پیدا کړي.





تاسې کولای شئ چې په فایور کې اکاونټ پرانیزئ او ډېر په اسانه د خپلو وړتیاو څخه ګټه ترلاسه کړئ.

فایور د 5$ ډالر نه پېلېږي، فایور ته فایور هم ځکه وایي، چې هر یو کار به د پنځوو ډالرو نه پېلېږي او چې وروسته ورسره څومره نور سهولتونه سپواکېږي، نو په هغه حساب به پېسې هم زیاتېږي.

### ۷۶-: پیپل پر هاور.کام PeoplePerHour.com:

پیپل پر هاور.کام او یا PPH یو ډېر لوی او ښه ځای دی، چرته چې تاسې پېسې ګټلای شئ. دلته خپلې وړتیاوې مشتریانو ته ووایئ او کار پیل کړئ. لکه






Scanned by CamScanner

چې د نوم نه يې څرګنده ده، دا د ساعتونو لوبه ده، چې څومره ساعت مو کار وکړ، هغه هومره پیسې به وګټئ.

تاسې خپلو مشتریانو ته ووایئ، چې د یو کار لپاره څومره پیسې اخلئ، او څومره هر څومره کېدای شي، وروسته له هغې، خپل کار پیل کړئ، تر څو چې د ساعت ستنه خوځېږي، ستاسې پیسې به سپوا کېږي.

### ۷۷-: فري لانسر.کام Freelancer.com:

د فري لانس کار کوونکو لپاره یو بل ښه او لوی ځای د freelancer.com دی. دې پلېټ فارم بېلا بېل انلاین کارونه په کټېګوریو وېشلي دي، لکه ډېټا انټري، پروګرامنګ، کونسټلنسي، وېب ډویلپمنټ او داسې نور.

په انځور کې تاسې یو موبایل وینئ او په موبایل کې یو اېپ راخلاص دی،




دې اېپ ته يې لاندې لیکلي دي، چې دا اېپ په ۱۰۱ ډالر جوړ شوی دی. نو دغسې په دې وېبپاڼه کې د هر څه کار پیدا کولای شئ او له دې لارې پیسې ګټلای شئ.

### ۷۸-: ګورو.کام Guru.com:

ګورو د انلاین کارونو له ټولو لوی ځای دی، دلته هر انلاین کار په اړه ډېر زر معلومات ترلاسه کولای شئ. په دې پاڼه کې نوي کارونه هره دقیقه خپرېږي، چې اکاونټ پکې جوړ کړئ، نو چې کومه کټېګوري تاسو هلته ورکړي وي، هغې سره اړوند ټول کارونه به تاسو د ایمېل له لارې هره دقیقه رالېږي.



Scanned by CamScanner




ګــورو تراوسه پورې په ټوله نړۍ کې یو نیم میلیــــــون ممبران لري، په دې کې تراوسه پورې یو میلیون کارونه پوره شوي دي، چې خلکو ترسره کړي او پېسې یې ترلاسه کړې دي. دې وېبپاڼې تراوسه پورې ۲۰۰ میلیونه ډالر خپلو ممبرانو ته د کارونو ترسره کولو په بدل کې ورکړې دي.

نو اکاونټ یکې جوړ کړئ او وګورئ چې کوم کارونه تاسې کولای شئ.

## ۷۹-: ۹۹ ډیزاینز.کام 99desings.com:

۹۹ ډیزاین په ځانګړي توګه د وېب ډیزاینرانو او وېب ډیویلپرانو لپاره جوړ شوې دی. که چېرې تاسې وېب ډیزاینر یا وېب ډیویلپر یئ، نو بیا خو دې پاڼې ته ورشئ او خپل ځان ته یکې اکاونټ پرانیزئ. دلته په زرګونو کارونه دي، چې ستاسې په تمه دي.




دې وېبپاڼې تراوسه پورې ۳۶۴۵۷۱ خلکو ته ډیزاینونه جوړ کړي دي او ورته یې حواله کړي دي. دا وېبپاڼه څه کم یو نیم میلیون ډیزاینران لري، چې په دې کې تاسې هم شاملېدلای شئ.

**۸۰-: فري لانس رایټنګ ګګز.کام Freelancewritinggigs.com:**

دا نو د لیکوالانو لپاره ځانګړی ځای دی. که چېرې تاسې لیکوال یئ او په هره موضوع لیکل کولای شئ، نو بیا دا ستاسې لپاره وړ ځای دی.




دلته تاسې د لیکنو له لارې پیسې ګټلای شئ او ډېر په اسانۍ، بس لیکل کوئ او پیسې ګټئ.

نو همدا اوس د لیکوالانو دې ځای ته ورشئ او هلته خپل ځان ته وریا اکاونټ پرانیزئ، تر څو په دې یو شمېر لیکوالانو کې ستاسو زیاتوالی هم وشي او له دې لارې ځان ته پیسې پیدا کړئ.

**۸۱-: پروجیکټ فور هایر.کام Project4hire.com:**

پروجیکټ فور هایر هغه وېبپاڼه ده، چرته چې تاسې بې شمېره کارونه پیدا کولای شئ. دلته بې شمېره کټېګوریو کې کارونه وېشلي شوي دي، چې هم انلاین یې ترسره کول دي.




دلته تاسې هر رنګه کار پیدا کولای شئ او د خپل کور نه انلاین کولای شئ.



Scanned by CamScanner

په لاندې انځور کې تاسې لیدلای شئ، چې ځینې وروستي کارونه پکې ښکاره کېږي. دلته که تاسې دې لومړي کار ته ځیر شئ، نو ۳۷۵ ډالر پورې دی

**Last Featured Jobs**

| Project Title | Average Bid | Time Left |
|---|---|---|
| Web based library management software & Android App | US$375.00 | 8d, 1h |
| One Page Flyer | US$197.22 | 8d, 1h |
| Ecommerce Website | = Sealed = | 5d, 23h |
| Webdesigning requirement - Online store | US$633.06 | 24d, 18h |

او لا هم پکې اته ورځې شته، چې که څوک یې نیسي نو یې نیولای شي.

په دې کې خوندوره خبره دا ده، چې په هر کار لکه د بولۍ یا لیلام غونډې پیسې لګي، که تاسو (Ecommerce Website) ته وګورئ، نو دا کار یو تن اخیستی دی، خو پاتې نور درېواړه کارونه لا هم بولۍ یا لیلام ته پراته دي. نو دا دغسې یو اوږد لیست دی، خو د ځای د نشتوالي له وجې ترې ما دغه یو څلور کارونه د بېلګې په ډول راواخیستل.

## د فري لانس کارونو نورې لارې:

لاندې د هغه ټولو وېبپاڼو یو لیست جوړ شوی دی، چې چرته فري لانس کارونه پیدا کولای شئ او که تاسو د کوم کار ورځنیا لرئ، نو دغلته د خپلې ورتیا نه ګټه پورته کولای شئ او په انټرنېټ انلاین پیسې پیدا کولای شئ.

## ۸۲-: کرېګ لیسټ Craiglist.org:

په ټوله نړۍ کې فعاله دا وېبپاڼه هم تاسې ته بې شمېره کارونه درکوي، کوم چې تاسې د خپل کور د اتاق نه ترسره کولای شئ.

## ۸۳-: ډیمانډ میډیا.کام Demandmedia.com:

دلته هم تاسې ډېر کارونه پیدا کولای شئ. په دې وېبپاڼه کې هم د نړۍ د ګوټ ګوټ نه خلک د خپلو کارونو ترسره کولو لپاره راځي، چې تاسې ترې د ځان



Scanned by CamScanner

لپاره کارونه رانیولای شئ.

**۸۴-: کالج ریکریوټر.کام Collegerecruiter.com:**

دا هم یوه بله وېبپاڼه ده، چرته چې تاسو فري لانس کار کولای شئ، د نړۍ د هر ګوټ نه خلک دلته کارونه پوسټ کوي، تر څو فري لانس پیدا کړي، چې هغه کارونه یې وکړي.

**۸۵-: ګېټ ای کوډر.کام Getacoder.com:**

که تاسو په پروګرامنګ پوهېږئ، نو بیا ستاسو لپاره دا هم یو غوره ځای دی.

**۸۶-: سمپلي هایرډ.کام Simplyhired.com:**

دلته هم په یوه دقیقه کې په میلیونونو کارونه پیدا کولای شئ.

**۸۷-: دامونګو.کام Damongo.com:**

د ګرافیک ډیزاین، موسیقۍ، انلاین مارکیټنګ، پروګرامنګ، ویډیو انیمېشن او د لیکنو او ژباړو بلها ډېر کارونه دلته شته، چې د ۵، ۱۰، ۲۰ او ۵۰ ډالرو نه پیلېږي.

**۸۸-: ډیمانډ سټډیز.کام Demandstudies.com:**

په دې وېبپاڼه کې هم په زرګونو بېلا بېل ډول کارونه پیدا کولای او رانیولای شئ.

**۸۹-: فوریر.کام Fourerr.com:**

دا یوه بله وېبپاڼه ده، چرته چې بې شمېره کارونه شته، چې خلک ورته فري لانسرز ګوري. دلته هر یو کار د ٤ ډالرو نه پیلېږي او بیا چې ورپسې څومره بره تللای شئ، همدومره ورپسې سبوا کېږي.

په دې وېبپاڼه کې هم زیات کارونه د انټرنېټ سره تړلي دي.



Scanned by CamScanner

**۹۰-: فاینډ ایور.کام Findeavor.com:**

دا هم د انټرنېټ سره تړلي کارونه لري او دلته تاسې خپل هغه توکي، لکه د وېبپاڼې ډیزاین، ګرافیک ډیزاین، انیمېشن، اپلیکېشن او داسې نور د انټرنېټ سره تړلي توکي هم خرڅولای شئ.

لاندې د نورو هغه وېبپاڼو ادرسونه دي، چرته چې تاسې د یو فري لانسر په توګه کار کولای شئ، نور د هرې یوې وېبپاڼې سره معلومات ځکه نه لیکو، چې کتاب به پرې هسې سپوا شي، بس دغه لاندې ټول په خپله درسره وګورئ.

۹۱-: flexjobs.com
۹۲-: freelanced.com
۹۳-: genuinejobs.com
۹۴-: gigblasters.com
۹۵-: gigbucks.com
۹۶-: gigbux.com
۹۷-: gigdollars.com
۹۸-: greatlance.com
۹۹-: helpcove.com
۱۰۰-: ifreelance.com
۱۰۱-: imgigz.com
۱۰۲-: justanswer.com
۱۰۳-: jobboy.com
۱۰۴-: microworkers.com
۱۰۵-: minijobz.com
۱۰۶-: rapidworkers.com
۱۰۷-: shortask.com
۱۰۸-: rehant.com
۱۰۹-: staff.com
۱۱۰-: studentfreelance.com
۱۱۱-: taskr.in
۱۱۲-: tenbux.com
۱۱۳-: tutor.com
۱۱۴-: weworkremotely.com
۱۱۵-: zeerk.com
۱۱۶-: freelancewritingjobs.ca
۱۱۷-: governmentbids.com
۱۱۸-: journalismjobs.com
۱۱۹-: onlinewritingjobs.com
۱۲۰-: jobs.problogger.com
۱۲۱-: redgage.com
۱۲۲-: taskarmy.com
۱۲۳-: textbroker.com
۱۲۴-: triond.com
۱۲۵-: writerbya.com
۱۲۶-: artwanted.com
۱۲۷-: authenticjobs.com
۱۲۸-: behance.net
۱۲۹-: computerassistant.com
۱۳۰-: crowdspring.com



Scanned by CamScanner

١٣١-: coroflot.com
١٣٢-: designcrowd.com
١٣٣-: envato.com
١٣٤-: themeforest.net
١٣٥-: codecanyon.net
١٣٦-: videohive.net
١٣٧-: photodune.net
١٣٨-: graphicriver.net
١٣٩-: audiojungle.net
١٤٠-: joomlancers.com
١٤١-: programmermeeddesigner.com
١٤٢-: seoclerks.com
١٤٣-: toptal.com
١٤٤-: topcoder.com
١٤٥-: krop.com
١٤٦-: dice.com
١٤٧-: wphired.com
١٤٨-: wearehirable.com
١٤٩-: crew.co
١٥٠-: gun.io
١٥١-: localsolo.com
١٥٢-: onsite.io
١٥٣-: folyo.me
١٥٤-: trygetster.com
١٥٥-: hiremyfriend.io
١٥٦-: yunojuno.com
١٥٧-: crowdsite.com
١٥٨-: jsninja.com
١٥٩-: gigscribe.com
١٦٠-: sologig.com
١٦١-: workingnomads.co
١٦٢-: bark.com
١٦٣-: campusjobs.com
١٦٤-: airpair.com
١٦٥-: gotraction.com
١٦٦-: landing.jobs

**یادښت:** پاس ورکړل شوې ټولې وېبپاڼې یو په یو وګورئ او د دوی کټیګورۍ هم وګورئ، چې تاسې ته کوم کوم کارونه درکوي، که ستاسې د ورتیا کار په کومه وېبپاڼه کې و، هغې کې ځان ته اکاونټ پرانیزئ او د خپل اتاق نه انلاین پیسې وګټئ. دا ټولې وېبپاڼې ما په خپله کتلي دي او له ټولو تاسو ګټه کولای شئ.




Scanned by CamScanner

# د انلاین ښوونې Teaching له لارې پیسې ګټل


**۱٦۷-: یوډیمي.کام Udemy.com:**

یوډیمي د نړۍ له ټولو ستر ځای دی، چرته چې انلاین کورسونه پېرل یا پلورل کېدای شي.




دلته هر څوک کولای شي چې په یوه موضوع، یو سافټوېر یا هر څه چې یو تن کولای شي، کورس جوړ کړي، دلته یې خرڅولای شي.

دې وېبپاڼې ته ورشئ او د ښوونکي په توګه یکې ځان ته اکاونټ پرانیزئ او ښوونه پیل کړئ.




دلته خپل لنډ او اوږده کورسونه خپاره کړئ، په کوم څه چې تاسې ډېر ښه پوهېږئ، په هغې کار وکړئ او خپل کورسونه دې وېبپاڼې ته اپلوډ کړئ.

چې کله تاسې دلته خپل اکاونټ پرانیزئ، نو دا وېبپاڼه تاسې په ټول پروسیجر باندې پوهوي، چې څنګه باید یو کورس جوړ کړئ او څنګه ورله مارکیټ پیدا کړئ، خو خوندوره خبره یکې دا ده، چې یوډیمي ٥ میلیونه زده کوونکي لري، چې دوی په خپله دې ټولو ته ستاسې کورس لېږي.



Scanned by CamScanner

یوډیمي.کام تراوسه پورې د ۴۵۰۰۰ زرو نه سېوا کورسونه لري، چې پنځه میلیونه تنه په دې کورسونو کې شاګردان دي یا یې دا کورسونه پېرلي دي.




دا د انلاین پیسو ګټلو یوه ډېره اسانه لاره ده، چې کورسونه جوړ کړئ، د خلکو ښوونکي شئ او له دې لارې پیسې ترلاسه کړئ.

### ۱۶۸-: ټیچ ایبل.کام Teachable.com:

که غواړئ چې خپل انلاین مکتب پرانیزئ، نو دا ستاسې لپاره ډېر غوره ځای دی.



دلته ښوونکی شئ، ښوونه پیل کړئ، خپل کورسونه جوړ کړئ او دلته یې انلاین خرڅ کړئ.

په ټیچ ایبل.کام کې ځان ته مکتب جوړول، ډېر اسانه دي. ټیچ ایبل له خپلو ښوونکو سره ډېره مرسته کوي او هر ډول اسانتیاوې ورکوي.


په دې وېبپاڼه کې یو تن الن پرلمن، چې دلته د یو ښوونکي په توګه کار



Scanned by CamScanner

کوي او خپل کورسونه خرڅوي، هغه د دې وېبپاڼې په اړه داسې لیکي:

((زه په دې هڅه کې وم چې خپل کورس جوړ او ښه ځای ورته وګورم چې خلکو ته ورسېږي او وې پلورم، نو په دغه وخت کې ما ټیچ ایبل.کام پیدا کړ، او په دې کې هر رنګې سیټنګ ډېر اسانه دی او د دې وېبپاڼې ټیم ډېر مرسته کوونکي دي. دې وېبپاڼې سره زما کار کول، یوه خوندوره تجربه ده)).




په دې وېبپاڼه کې تراوسه پورې د ۳ میلیونو نه زیات شاګردان دي، شلو زرو نه زیات کورسونه پکې شته، ۷۵۰۰ نه زیات ښوونکي پکې خپل کورسونه پر مخ بیايي او تراوسه پورې د دې وېبپاڼې نه د ۳۶ میلیونو نه سېوا ډالر دلته خپل کورسونه خرڅوونکو ښوونکو ترلاسه کړي دي.

نو تاسې دې ولې دلته وروسته پاتې شئ، بس تاسې هم دلته خپل اکاونټ پرانیزئ او دې خلکو سره ځان یو ځای کړئ.

**۱۶۹-: سکِل شئیر.کام Skillshare.com:**

سکِل شئیر هغه ځای دی، چرته چې تاسو خپل کورسونه اپلوډ کولای شئ، دغلته یې خپرولای شئ او چې کله یې په دغه ځای کې شاګردان اخلي، ګوري یې،







Scanned by CamScanner

نو د هغې پر اساس به تاسې ته هره میاشت ډالر درکوي.

سکِل شئیر وېبپاڼه وايي، چې دلته پیسې وګټئ او خپل هغه څه چې، تاسې یکې ورټیا لرئ، له نورو سره شریک کړئ او ځان له ځانګړی برانډ جوړ کړئ.

سکِل شئیر وېبپاڼه وايي، چې دلته پنځلس زره نه زیات کلاسونه شته، چې شاګردان ترې زدکړې ترلاسه کوي او په زرګونو شاګردان لري.




سکِل شئیر وايي، چې په وېبپاڼه کې یې ۲ میلیونو نه سېوا شاګردان او ښوونکي شته، چې ښوونکي د کورسونو سره خواري کاږي او شاګردانو ته یې ګټه رسېږي، چې په بدل کې یې ښوونکو ته پیسې ورکول کېږي.

دلته هم تاسې هر ډول کورسونه، چې تاسې یې ورټیا لرئ او پوهېږئ چې په دې کې تاسو نورو خلکو ته څه ورښودلای شئ، خپروئ او له دې لارې پیسې ګټئ.

## ۱۷۰-: یوټیوب.کام YouTube.com:


د ښوونې او د کورسونو لپاره یوه ډېره اسانه او د ګټې لاره د یوټیوب هم ده. بس خپل کورسونه جوړ کړئ، چې په هره موضوع کې تاسې ورټیا لرئ او پوهېږئ چې خلکو ته ترې ګټه رسېږي او هغه بیا دلته اپلوډ کړئ.

په یوټیوب باندې تاسې کولای شئ چې په خپلو ویډیوګانو د ګوګل اېډسنس اعلانونه ولګوئ او چې څومره ستاسو ویډیوګانې کتلی کېږي، هغه هومره

په پېسې تاسو ته راځي.


د نوو خلکو یا هغه کسان چې غواړي په دې لاره کې کار وکړي او پېسې وګټي، د هغوی لپاره یوټیوب ډېر ښه ځای دی.

یوټیوب د ګوګل شرکت د ویډیو لپاره ځانګړې جوړه شوې ویبپاڼه ده او د



ویډیو ویبپاڼو په ترڅ کې د نړۍ تر ټولو لویه ویبپاڼه، چې په الېګزا رېنک کې په دویم لمبر ده.

د ۲۰۱۲ز کال د یو راپور له مخې، یوټیوب په ۲۰۱۲ز کال پورې له پنځوو سوو میلیونو زیاتې چېنلې لرلې، چې فکر ورته کوئ، اوس به نو څومره سېوا شوې وي.




په دې ویډیو خپرېدونکې ویبپاڼه کې تاسې هر ډول ویډیو خپرولای شئ، خو دا ده، چې ویډیو مو خپله وي، که د بل چا ویډیو یا میوزک دلته خپور کړئ، نو بیا یوټیوب ستاسې چېنل له مینځه وړي. خو د ښوونې یا زدکړو په اړه دلته چېنل جوړول، ډېر ګټور دی، ځکه چې د نړۍ ډېری وګړي یوټیوب ګوري.

د بریتانیه ډېلي مېل ویبپاڼې د ۲۰۱۶ کال کې په یوټیوب له ټولو زیاتې پېسو ګټونکو لسو کسانو یو راپور لیکلی دی.





Scanned by CamScanner

جلیل دادمن




په دې لړ کې له ټولو مخکې PewDiePie دی، چې په ۲۰۱٦ کال کې یې ۱۵ میلیونه امریکایي ډالره د خپل چېنل له لارې ګټلي دي.

په دویم لمبر کې رومن اټووډ دی، چې د خپل چېنل له لارې یې ۸ میلیونه ډالر ګټلي دي، وریسې لِلي سنګ اووه نیم میلیونه، سموش ۷ میلیونه، ټیلر اوکلي ٦ میلیونه، روسانا پانسینو ٦ میلیونه، مارکیپلیر پنځه نیم میلیونه، جرمن ګارمینډیا پنځه نیم میلیونه، کولین بلینګر ۵ میلیونه او ریت اینډ لنک ۵ میلیونه ډالر ګټلي دي. نو پوهه شئ، چې دلته د میلیونونو ډالرو لوبې روانې دي.

دلته د پیسو ګټلو دوه لارې دي، یوه خو دا، چې تاسې کولای شئ چې په خپلو ویډیوګانو باندې د ګوګل اېډسنس اعلانونه ولګوئ او د دې لارې پیسې وګټئ، دویمه دا، چې دلته تاسو خپل پراډکټ (ویډیوګانې) خرڅولای هم شئ، دا به بیا یواځې هغه خلک کتلای شي، چې د دې ویډیو چې څه بیه وي، هغه لومړی ورکړي، نو وروسته به په دې توانېږي، چې دا ویډیو وګوري، نو دا د پیسو ګټلو یوه ډېره اسانه او ارزانه لاره ده، چې هیڅ پیسې نه غواړي او پیسې درکوي ډېرې، نو هم نن ورشئ او ځان ته یکې چېنل جوړ کړئ.

## ۱۷۱-: پلورل سایټ.کام Pluralsight.com:

دا یو بل ګټور ځای دی، چرته چې تاسې نن کار پیل کړئ، ښوونه ورکړئ او سبا ترې پیسې وګټئ.





دا ویبپاڼه تاسې ته دا سهولت هم درکوي، چې انلاین شاګردان ولرئ او هغوی ته زدکړه ورکړئ او له دې پرته خپل کورسونه هم ورته اپلوډ کولای شئ او له دې لارې دلته نه پیسې ګټلای شئ.



Scanned by CamScanner

په دې وېبپاڼه کې هم هر رنګه او هر قسمه کورسونه شته، دلته د يوې اندازې تر مخې ۳ ميليونه کسان زدکړې ورکوي، نو پوهېږئ چې دلته به شاګردان څومره وي؟





دا وېبپاڼه وايي چې ورځ تر بلې ښه کېږي او ورځ تر بلې يې هم شاګردان سېوا کېږي او هم يې استادان مخ په بره روان دي.

نو تاسې هم له دې ګټې ځان مه بې برخې کوئ او هم نن دې وېبپاڼې ته سر ورښکاره کړئ.

۱۷۲-: اکاډمي آف ماين.کام Academyofmine.com:

اکاډمي آف ماين يوه اکاډمي ده، چرته چې تاسې خپل مکتب جوړولای شئ او دلته خپل کورسونه پلورلای شئ.




د اکاډمي آف ماين سرويس وړيا نه دی، خو دا ډېره ويليو لري، دلته خپل انلاين ټرېننګ سنټر او مکتب په څو ثانيو کې جوړولای شئ.




Scanned by CamScanner

### ۱۷۳-: وزق.کام Wiziq.com:

WizIQ یواځې د کورسونو اپلوډ کولو ځای نه دی، دلته تاسې انلاین زدکړې په ژوندۍ بڼه ورکولای شئ.

دا یو ډېر خوندور ځای دی، دوی ډېرې اسانتیاوې هم لري، د کومو په کارولو چې تاسې د خپلې کوټې نه د نړۍ د بېلا بېلو هېوادونو د زرګونو شاګردانو سره تماس نیولای شئ او هغوی ته زدکړه ورکولای شئ.




که د هر څه شوونکی یې، خو چې شوونکی یې، نو هېڅ پرېشانه کېږه مه، بس دلته اکاونټ جوړ کړه او د نړۍ له خلکو سره یو ځای شه.


### ۱۷٤-: کوګنو.کام Coggno.com:

کوګنو د انلاین کورسونو یا زدکړو یوه بله وېبپاڼه ده، چې پکې ۱۲۹۰۲۳۱ دولس لکه، نوي زره، دوه سوه یو دېرش کورسونه تراوسه پورې شته او لا هم پکې نور کورسونه خلک اپلوډ کوي. نو تاسو هم ورشئ او خپل کورسونه ورته اپلوډ کړئ.



Scanned by CamScanner

### ۱۷۵-: کورس مرچنټ.کام Coursemerchant.com:




په دې وېبپاڼه کې هم پـه زرګونـو انلاین کورسونه پراته دي، دلته تاسې هـم خپل کورسونه اپلوډ کـولای شـئ، تـر څـو خلکو ته ورسېږي او وې پېرې.
دا وېبپاڼه په زرګونـو تنـه استادان او شاګردان لري، چې دلته شته کورسونه پـه پیسـو اخلـي، هـم دلتـه یـې ګـوري او زدکړه ترې ترلاسه کوي. دوی تاسـو تـه د ۲٤ لارو نه پیسې درلېږي. دلتـه ستاسـو پیسې خوندي دي او تاسو کولای شئ چې هره میاشت شې ډېرې پیسې لـه دې ځایه ترلاسه کړئ.

### ۱۷۶-: ډیجیټل چاک.کام Digitalchalk.com:

ستاسو د کورسونو لپاره یوه بله ښه، ګټـوره او اسانه وېبپاڼـه ده، چرتـه چـې تاسو خپل کورسونه په ډېره اسانه توګه اپلوډ کولای شئ.

### ۱۷۷-: ایډلاوډ.کام Edloud.com:

په دې وېبپاڼه کې تاسو انلاین کورسونه خرڅولای شئ، دلته تاسو په ژوندۍ بڼه خلکو ته ټرېننګونه هم ورکولای شئ او د دې وېبپاڼې نـه د Live Webinar د لارې هم پیسې ګټلای شئ.

### ۱۷۸-: لرننګ کارټ.کام Learningcart.com:

دا وېبپاڼه هم تاسو ته ډېر سهولتونه درکوي، لکه:

SCORM Compliant Training Courses

Video Content

Digital Files

In Person Events



Scanned by CamScanner

Webinars

Physical Products, like DVDs and Textbooks

Content Hosted in 3rd Party Systems

Web Applications/Databases

د دې ویبپاڼې له لارې تاسو د نړۍ په میلیونه خلکو سره یو ځای کېدای شئ او خپل کورسونه په هغوی خرڅولای شئ.

### ۱۷۹-: لیټموس.کام Litmos.com:

په لیټموس کې هم هر ډول کورسونه خرڅېږي، دوی د نړۍ د ۱۳۰ هېوادونو خلک لري، چې د ۲۰ میلیونو نه سېوا کورسونه په دې ویبپاڼه کې شته او ټول کورسونه یې په زرګونو زرګونو شاګردان لري.

دې ویبپاڼې ۹ جایزې هم ترلاسه کړې دي او ۴۰ لکه لیدونکي لري.

### ۱۸۰-: سټاک سکلز.کام Stackskills.com:

د Online Teaching یوه بله ویبپاڼه، چې پکې د ۵۰۰ نه سېوا کورسونه شته دی، دلته د ۲۳۰ نه سېوا استادان دي، چې خپل کورسونه یې په دې ویبپاڼه کې اپلوډ کړي دي او د ۳۵۰ زرو نه سېوا شاګردان هم لري.

### ۱۸۱-: سټاک سوشل.کام Stacksocial.com:

په دې ویبپاڼه کې هم هر ډول کورسونه شته، د نړۍ د بېلا بېلو هېوادونو څخه په زرګونو استادانو پکې خپل کورسونه اچولي او دا ویبپاڼه میلیونه شاګردان لري.

دا ویبپاڼه نه یواځې چې ستاسو کورسونه خرڅوي، د دې ویبپاڼې لنک هم تاسو په خپلو ویبپاڼو او بلاګونو کې خپرولای شئ، د دې لارې هم تاسو له دې ځایه پیسې ګټلای شئ.



Scanned by CamScanner

## ۱۸۲-: سټاک کامرس.کام Stackcommerce.com:

د دې وېبپاڼې له لارې هم تاسو د نړۍ د بېلا بېلو هېوادونو خلکو سره اړیکه کې ګېډلای شئ او دا وېبپاڼه ستاسو کورسونه په ټوله نړۍ کې خلکو ته رسوي.

دا له دې پرته نور هم ځینې سهولتونه ورکوي، چې تاسې ترې ګټه پورته کولای شئ.

## ۱۸۳-: اي ډوریله.کام Edurila.com:

دا وېبپاڼه هم هر رنګې کورسونه لري، دوی له انګلیسي پرته په څو نورو ژبو کې هم خپل خدمات وړاندې کوي او د انټرنېټ سره د تړلو ځیزونو نه پرته دوی د شاګردانو لپاره د تعلیم په اړه هم کورسونه لري.

## ۱۸٤-: سمپلی لرن.کام Simplilearn.com:

دا وېبپاڼه هم میلیونه شاګردان لري، چې دلته ډېرى کورسونه شته او شاګردان لري. دوی تراوسه پورې د کورسونو جوړونکو ته د ٥ بیلیونه نه سېوا ډالر ورکړي دي.

دوی پرته له کورسونو، د Affiliate Marketing سهولت هم ورکوي، چې د هغې له لارې هم ترې تاسې پیسې ګټلای شئ.

**یادښت:** پاس ورکړل شوي وېبپاڼې په خپله وګورئ، معلومات یې وګورئ، دا ټولې ښه کار کوي او د یو ښوونکي په توګه تاسې ته ښې اسانتیاوې هم درکوي، که چېرې په څه پوهېږئ، نو په پاسنو وېبپاڼو کې چې درته کومه ښه ښکاره شوه، په هغې کې ځان ته اکاونټ پرانیزئ او د انټرنېټ له نړۍ تاسې هم پیسې وګټئ.



Scanned by CamScanner

جلیل دادمن



# د Affiliate Marketing له لارې پیسې ګټل

## Affiliate Marketing څه شی دی؟

Affiliate Marketing په انلاین نړۍ کې دې ته وايي، چې کومې مشهورې وېبپاڼې دي، هلته تاسې ځان ته اکاونټ پرانیزئ او د هغوی پروډکټ په خپلو وېبپاڼو، بلاګونو یا هم د ټولنیزو رسنیو له لارې خپاره کړئ. په دې وېبپاڼو کې به تاسې ته یو ځانګړی لنک درکړل شوی وي، کله چې ستاسې د لنک نه (کومه وېبپاڼه کې چې تاسې اکاونټ جوړ کړی دی) هلته یو څوک راغله او څه یې واخستل، نو په هغې کې به تاسې ته فیصدي درکول کېږي.




په انټرنېټ داسې په سوونو وېبپاڼې دي، چې هغوی د Affiliate Marketing سرویس لري او تاسې پکې ځان ته اکاونټ جوړولای شئ. تاسې د دې وېبپاڼو او مشتریانو ترمینځ د یو پُل په حساب یئ، څومره خلک چې دلته راولئ او څومره څه چې دوی دلته اخلي، نو هغه هومره به تاسې ته فیصدي درکول کېږي.

### ۱۸۵-: شئیر سېل.کام Sharesale.com:

د نړۍ یو له ټولو ستره وېبپاڼه، چې د نورو خلکو توکي یا پروډکټ پکې نورو خلکو ته ورسوئ او خپل کمېشن ترلاسه کړئ.



Scanned by CamScanner

د شئیر سېل وېبپاڼه Affiliate System لري، چرته نه چې تاسې د هغوی هر یو توکی نورو خلکو ته رسولای شئ، که یو کس هم چېرې ستاسې له لنک څخه دلته نه څه واخستل، نو تاسې ته به پکې یو ښه کمېشن درکړل شي.

بس ناوخته کوئ مه، وګورئ چې دلته داسې څه دي، چې هغه د خلکو پکار




دي، خو ورته وررسېدلي نه دي، هغوی ته دا توکي ورسوئ او خپل کمېشن ترلاسه کړئ.

دا یو انلاین بازار دی، چې هر څه پکې شته او په هر څه پکې تاسو پیسې ګټلای شئ.

۱۸۶-: لنک شئیر.کام Linkshare.com:


Rakuten LINKSHARE™ RAKUTEN AFFILIATE NETWORK

د دي وېبپاڼې خو د نوم نه خرګندېږي، چې وایي زموږ لنک له خلکو

سره شئیر یا شریک کړئ او پېسې وګټئ.

دا د Affiliate Marketing لپاره یو بل لوی بازار دی، چرته چې میلیونه پروډکټ یا توکي پراته دي، په خاصه توګه ډیجیټل پروډکټ یا توکي، کوم چې تاسو نورو خلکو ته رسولای شئ او یو ښه کمېشن پکې ترلاسه کولای شئ.


دوی د Affiliate Marketing له لارې تر پنځوس فیصده پورې تاسې ته




درکوي، نو ستاسې نور څه پکار دي. خو بس دغلته ورشئ، خپل ته اکاونټ پرانیزئ، د دوی توکي خلکو ته ورسوئ او چې هر څوک ستاسې د لنک نه څه واخلي، نو تاسې پکې خپل کمېشن ترلاسه کړئ.

## ۱۸۷-: کلک بېنک.کام ClickBank.com:

دا پخوانی دی، خو لا هم د چا خبره، سره زر دي.



کلک بېنک تراسه پورې د Affiliate Marketers لپاره د خوند او ګټې ځای دی. تاسې کولای شئ چې دلته هغه توکي، چې دوی خپاره کړي دي، نورو خلکو ته ورسوئ او خپل کمېشن پکې ترلاسه کړئ.

کلک بېنک وايي چې په ټوله نړۍ کې يې شل کروړه مشتريان دي، چې تراوسه پورې يې له دې وېبپاڼې توکي اخستي دي او دا لړۍ لا هم په مخکې روانه ده.

په انټرنېټ کې د پلور په بازار کې دا وېبپاڼه په ۲۰۱۵ کال کې په غوره ۱۰۰ وېبپاڼو کې راغلې ده، چې ډېر مشتريان يې لرلي دي.




دلته بلها ډيجيټل توکي شته، چې ستاسو د ليدونکو لپاره خوندور کېدای شي او چې کله ستاسو د لنک نه، دلته نه چا يو څه واخستل، نو ستاسې لپاره پکې ډېره لويه فيصده شته، کله کله تاسې ته د يو توکي په خرڅولو کې د مرستې يا خلکو ته د رسولو له لارې ۹۰% فيصده کمېشن هم درکوي.

نو بس، ورشئ او له دې نه ګټه واخلئ.

**۱۸۸-: امازون.کام Amazon.com:**

د نړۍ تر ټولو ستر انلاين بازار، چې پکې انلاين توکي اخستلای شئ او چې د نړۍ په هر ګوټ کې ژوند کوئ، امازون به يې ستاسې کورو ته دررسوي.

امازون نه يواځې دا چې د انټرنېټ سره تړلي انلاين څيزونه خرڅوي، بلکې دوی د کور د ضرورت او د انسان د ژوند د ضرورت هر يو څيز لري.



Scanned by CamScanner

جلیل دادمن



دلته تاسې د Affiliate marketing له لارې د دوی توکي نورو تـه رسـولای شئ، چې د هر څا د خوښې وړ وي او اخستو ته يې لېواله وي.


امازون د ورځني استعمال ډېر زيات څيزونه لري، چې د هر يو تن پکارېږي، نو که تاسو په خپل ليسټ کې داسې خلک لرئ، چې هغوی انلايـن څيزونـه اخلـي، نو بيا تاسې له دې ځايه دومره پېسې ګټلای شئ، چې ستاسو به په فکر کې هم نه وي راغلي.

په امازون وېبپاڼه کې ۳٤۱۰۰۰ تنه کار کوي، دا په ۱۹۹٤ کال کې جوړه شـوې ده او په تېر ۲۰۱٦ کال کې يې څه دپاسه ۱۳۵ بلينه ډالر ګټلي دي.

نو بس ورشئ، دلته ځان ته اکاونـټ پرانيـزئ او د دوی د توکـو پـه خرڅولـو کې له دوی سره مرسته وکړئ او خپل ښه ډېر کمېشن مو ترلاسه کړئ.

**۱۸۹-: سي جي.کام CJ.com يا Click Junction:**

کلک جنکشن د Affiliate Networks په پنځه غـوره وېبپـاڼو کـې يـوه ده. چرته چې تاسې د دوی د فيزيکي او ډيجيټل توکـو پـه خورولـو او خلکـو تـه رسـولو پېسې ترلاسه کولای شئ.




دلته په ميليونونو خلک دي چې خپل توکي يې د خـرڅ لپـاره وړانـدې کـړي دي.

کلک جنکشن وېبپاڼې د خرڅلاو بـازار او د Affiliate Marketing لـه لارې تراوسه پورې ۱۱ جايزې هم ترلاسه کړي دي.

دا وېبپاڼه ۱۹ کاله مخکې په ۱۹۹۸ کې جوړه شوې ده، چې تراوسه پورې پکې د ۳۰۰۰ نه زياتو شرکتونو خپل توکي خرڅلاو ته وړاندې کړي دي.

په کلک جنکشن کې د يو پبلشر يا د دوی د توکو د خلکو ته رسولو په توګه



Scanned by CamScanner

تاسې ځان ته پیسې جوړولای شئ، نو که وېبپاڼه لرئ یا بلاګ او یا هم درسره په ټولنیزو رسنیو ډېر خلک وي، نو بس ورشئ، د دوی توکي خلکو ته ورسوئ او چې ستاسو د لنک نه څوک څه واخلي، نو پیسې به ستاسې اکاونټ ته هم راځي.

## ۱۹۰-: ایبی.کام Ebay.com:

په دې بازارونو کې یو بل لوی بازار ایبی دی، څوک چې خپلو پبلشرانو (هغه څوک چې د دوی توکي نورو ځایونو کې خلکو ته رسوي) ته ډېرې اسانتیاوې ورکوي.




د دوی توکي چې چرته هم تاسې خپاره کړئ او د هغه ځای نه څوک راغلو، نو ستاسو کمېشن به تاسو ته په هماغه وخت درکړي.

دوی خپل توکي د نړۍ هر ګوټ ته رسوي، د نړۍ له هر ګوټ څخه چې په دې وېبپاڼه کې څوک یو څه واخلي، نو دوی یې د کور تر دروازې وررسوي.

د ایبی ځینې نعرې داسې دي: نړیوال انلاین بازار؛ پېرودونکي او پلورونکي په نړیواله توګه له یو بل سره یو ځای کوو؛ هر څه چې غواړئ، په ایبی کې یې ترلاسه کړئ؛ واخلئ، خرڅ کړئ، مینه وکړئ؛ نوي واخلئ، همدا اوس یې واخلئ او څه چې ستاسو په مزغو کې راشي، هغه په ایبی کې له مخکې وي.

په ایبی کې تراوسه پورې ۱۲۶۰۰ تنه کار کوي، په ۲۰۱۶ز کال کې دې وېبپاڼې څه کم ۹ بیلیونه ډالر ګټلي دي.

د دې وېبپاڼې الېګزا رېنک ۳۳م دی، یعنې په نړیواله سطحه دا ۳۳م لمبر



Scanned by CamScanner

وېبپاڼه ده.

په دې بازار کې د ورځني ژوند د کارونې څیزونه ډېر زیات دي، چې هر څوک ورته اړتیا لري، نو بس تاسې هم د خلکو د اړتیا وړ څیزونه دوی ته ورسوئ او خپل کمېشن د ایبی وېبپاڼې نه ترلاسه کړئ.

## د Affiliate Marketing ځینې نورې وېبپاڼې:

### ۱۹۱-: اېونګېټ.کام Avangate.com:

دې وېبپاڼه کې د ٤ زرو څخه د سېوا شرکتونو سافټوېرې د خرڅلاو لپاره پرتې دي، دوی تاسې ته د Affiliate Marketing اسانتیا درکوي، که د دوی سافټوېرې تاسو ته په درکړل شوي لنک خرڅې شوې، نو تاسو ته به ښې خپل کمېشن درکړي.

### ۱۹۲-: فلیکس آفرز.کام Flexoffers.com:

دا وېبپاڼه د خرڅلاو لپاره هر رنګه ډیجیټل توکي لري، چې په میلیونونو توکي دي، دوی ستاسې لپاره د ۱۰ زره نه سېوا Affiliate Programs لري، چې تاسو کولای شئ ګټه ترې ترلاسه کړئ.

دا د CPS Networks په غوره لس وېبپاڼو کې شامله ده او دوی تر ۵۰% فیصده پورې کمېشن ورکوي.

دا وېبپاڼه وایي، چې په میاشت کې د ۵۰۰۰ زرو نه زیاتو ډالرو توکي مو ورله وپلورل، نو دوی تاسو بیا په NET 7 کټېګورۍ کې شاملوي، چې ډېرې اسانتیاوې درکوي.

### ۱۹۳-: لنک کنېکټر.کام Linkconnector.com:

د لنک کنېکټر په نوم دا وېبپاڼه هم ستاسو لپاره د Affiliate Marketing اسانتیا لري، تاسو کولای شئ چې له دې هم ګټه پورته کړئ.

### ۱۹٤-: افیلیټ وینډو.کام Affiliatewindow.com:

د Affiliate Marketing لپاره یو بل ګټور او اسانه ځای، دلته د ۶۰۰۰ Advertisers په میلیونونو توکي پراته دي، چې تاسو یې د Affiliate لنکونو له لارې نورو ته رسولای شئ او خپله ګټه ښې ترلاسه کولای شئ.

دې وېبپاڼې سره د سل زره نه سېوا خلک دي، چې د دوی لپاره Affiliate Marketing کوي.



Scanned by CamScanner

دوی په ۲۰۱٦ کال کې د ۸۲ میلیونو پورې توکي خرڅ کړي دي، نو تاسو فکر وکړئ، چې په دوی کې به د Affiliate Marketing له لارې څلکو څومره پیسې ترلاسه کړي وي؟

**۱۹۵-: افیلیټ نېټورک.کام Affiliatenetwork.com:**

یو بل د ګټې ځای دی، چرته نه چې تاسو د Affiliate Marketing له لارې پیسې ترلاسه کولای شئ.

د دې وېبپاڼې د کار ۱۲ کاله کېږي او د ۹۰ میلیونو نه سېوا مشتریان لري، تراوسه پورې یې د ۱ بیلیون نه زیات ډالر پورې کار کړی دی.

**۱۹٦-: اډمیډیا.کام Admedia.com:**

په دې نېټورک کې هم ستاسو لپاره د مارکیټنګ بلها څیزونه پراته دي.

**۱۹۷-: ټریډډبلر.کام Tradedoubler.com:**

په دې نېټورک کې هم قریباً د دوه زره شرکتونو توکي شته، چې تاسو ترې ګټه ترلاسه کولای شئ.

**۱۹۸-: وېب ګېنز.کام Webgains.com:**

یو بل ډېر د ګټې ځای دی، چې د نورو اسانتیاوو سره سره تاسې ته د Affiliate Marketing اسانتیا هم درکوي او تاسې له دې ځایه پیسې ګټلای شئ.

**۱۹۹-: ایمپېکټ ریډیوس.کام Impactradius.com:**

دا وېبپاڼه د Affiliate Marketing سره سره نورې اسانتیاوې هم ورکوي، خو تاسې ترې د Affiliate Marketing له لارې ګټه ترلاسه کولای شئ.

**۲۰۰-: ویلیو اډز.کام Valueads.com:**

په دې وېبپاڼه کې هم تاسو ته د Affiliate Marketing سرویس شته، له دې لارې تاسو کولای شئ چې د دوی لنکونه په خپلو وېبپاڼو، بلاګونو او ټولنیزو رسنیو کې خپاره کړئ او خپل کمېشن ترلاسه کړئ.

د څینو نورو هغه وېبپاڼو لیست، چې د Affiliate Marketing اسانتیاوې لري، دلته یې یواځې لنکونه ورکوم، چې په لاندې ډول دي:

۲۰۱-: hostgator.com

۲۰۲-: godaddy.com



Scanned by CamScanner

جلیل دادمن



۲۰۳-: bluehost.com
۲۰۴-: hostgator.com
۲۰۵-: namecheap.com
۲۰۶-: siteground.com
۲۰۷-: site5.com
۲۰۸-: ipage.com
۲۰۹-: themeforest.net
۲۱۰-: codecanyon.net
۲۱۱-: audiojungle.net
۲۱۲-: studiopress.com
۲۱۳-: themeskingdom.com
۲۱۴-: theme-junkie.com
۲۱۵-: elegantthemes.com
۲۱۶-: mythemeshop.com
۲۱۷-: famethemes.com
۲۱۸-: hosterpk.com
۲۱۹-: premiumwp.com
۲۲۰-: ithemes.com
۲۲۱-: themefuse.com
۲۲۲-: themetrust.com
۲۲۳-: themefurnace.com
۲۲۴-: woothemes.com
۲۲۵-: shape5.com
۲۲۶-: upthemes.com
۲۲۷-: appthemes.com
۲۲۸-: marketpress.com
۲۲۹-: templatic.com
۲۳۰-: wpzoom.com
۲۳۱-: zappythemes.com
۲۳۲-: enginethemes.com
۲۳۳-: rockettheme.com
۲۳۴-: udemy.com
۲۳۵-: aliexpress.com
۲۳۶-: payoneer.com
۲۳۷-: adultfriendfinder.com
۲۳۸-: infolinks.com
۲۳۹-: wpengine.com

**یادګیرنه:** پاس ورکړل شوې وېبپاڼې یو په یو په خپله وګورئ، د Affiliate آپشن پکې پېدا کړئ، ځان ته دغلته Affiliate اکاونټ جوړ کړئ او د پیسو په ګټلو پیل وکړئ.

د دغه وېبپاڼو لنکونه او بېنرې په خپلو وېبپاڼو او بلاګونو کې ورکړئ. تر څو چې پرې خلک کِلک کوي او هغه وېبپاڼې ته ورځي، تاسې ته به پیسې راځي.


زیاتره تاسې د Affiliate لنک د دغه یادو وېبپاڼو په اخر کې پېدا کولای شئ.

# د بلاګنګ Blogging له لارې پيسې ګټل

## بلاګنګ Blogging څه شی دی؟

بلاګنګ مانا بلاګ کارول يا خپل بلاګ لرل او په هغې کې وخت نا وخت ليکنې کول، تر څو لوستونکي پيدا کړئ، چې ستاسې بلاګ ته راشي، څومره چې ډېر ليدونکي ستاسې بلاګ ته راځي هومره ګټه به تاسې ته دررسېږي.

بلاګ د هر څه په اړه کېدای شي، په څه کې چې تاسې ورتيا لرئ، د بېلګې په ډول ډاکټر ياست، نو د ډاکترۍ او د دواګانو او د ناروغيو په اړه تاسې وخت نا وخت ليکنې کولای شئ، کومې چې ورځنۍ ناروغۍ دي، د هغې په اړه خلکو ته معلومات ورکولای شئ؛ يا هم ليکوالي کوئ، يعنې په سياسي او روانو چارو ښه




ليکل کولای شئ او داسې نور.

نو دا ستاسې په ورتيا پورې ده، چې تاسې د څه په اړه ليکنې کولای شئ، په کومو ليکنو خلک خپل بلاګ ته راوستلای شئ او څنګه خلک دې ته مجبوروئ چې هغوی ستاسو بلاګ وخت نا وخت وګوري.

د بلاګونو دوه ډولونه دي، يو يې هغه چې تاسو يې ورېيا جوړوئ او هېڅ پيسې درنه نه غواړي، بل يې هغه ډول دی چې تاسو ځان ته خپل نوم اخلئ، خپل



Scanned by CamScanner

جلیل دادمن



سپېس اخلئ او خپله وېبپاڼه جوړوئ.

په انټرنېټ د بلاګ او وېبپاڼو جوړولو لپاره بلها وېبپاڼې شته، چرته چې تاسې خپل وړیا بلاګ او په پیسو وېبپاڼه جوړولای شئ، څومره چې تاسې په دې کې معلومات ډېر ترلاسه کړئ، هومره به ترې ډېره ګټه لاسته راوړئ.

### ۲۴۰-: بلاګر.کام Blogger.com:

بلاګر.کام د بلاګنګ لپاره تر ټولو لوی، غوره او وړیا ځای دی، چرته چې تاسې د ځان لپاره بلاګ ډېر په اسانۍ جوړولای شئ.



کله چې دلته خپل بلاګ وړیا جوړ کړئ، نو بیا له دې لارې تاسې یا خو اعلانونه دلته خپاره کړئ او یا Affiliate لنکونه خپاره کړئ، او د دې د لارې پیسې وګټئ.

تاسې د خپل بلاګ د لارې داسې پوسټونه هم کولای شئ، چې ځینې وېبپاڼې د هغه پوسټونو لپاره بلاګرانو ته پیسې ورکوي او یا ځینې سپانسر شوې کتنې او تبصرې sponsored reviews هم خپرولای شئ.

بلاګر د ګوګل یو د وړیا بلاګونو سرویس دی، چې ۱۷ کاله مخکې په ۲۳ اګست ۱۹۹۹ کې جوړ شوی دی. د بلاګر.کام الیګزا رېنک په نړیواله سطحه ۱۱۲م دی.

کله چې تاسې دلته خپل بلاګ جوړ کړئ، نو د هغې لنک به داسې وي www.yourname.blogspot.com او یا هم yourname.blogspot.com او تاسې دا خپل ځانګړي Domain ته هم اړولای شئ.

په لاندې انځور کې تاسې لیدلای شئ، دا د تېر ۲۰۱۶ کال هغه غوره بلاګونه دي، چې ډېرې پیسې ګټي.

په دې کې لومړی بلاګ The Huffington Post دی، دا هره میاشت ۲۳۳۰۰۰۰ ډالر ګټي، او دا ټولې پواځې د ګوګل اډسنس د هغه اعلانونو نه ګټي، چې هغوی په کلک پیسې ورکوي.



Scanned by CamScanner

## په انټرنېټ د پیسو ګټلو ۶۰۰ لارې


رحمت دیوان

| RANK | WEBSITE | OWNER | MONTHLY EARNINGS | MAIN INCOME |
|---|---|---|---|---|
| 1 | The Huffington Post | Ariana Huffington | $2,350,000 | Pay Per Click |
| 2 | Techcrunch | Michael Arrington | $800,000 | Advertising Banners |
| 3 | Mashable | Pete Cashmore | $600,000 | Advertising Banners |
| 4 | Perez Hilton | Mario Lavandeira | $450,000 | Advertising Banners |

د دې نه لاندې تاسې نور هم کتلای شئ، چې د Advertising Banners ورته لیکلي شوي دي، یعنې دوی سپانسر بېنرې لګوي او د هغې لـه لارې پیسـې ګټي.

په انټرنېټ په میلیونونو بلاګونو کې ځینې هغه بلاګونه، چې یا ډېرې پیسې ګټي، یا ډېر مشهور دي، د دې ډېر اوږد لیسټ شته، خو ما دلته دا یو څو یواځې د بېلګې ډول وړاندې کړل، ځکه چې که د ټولو لیسټ پکې خېروم، نو کتاب به رانه بیا ډېر اوږد شي.

زه په خپله په بلاګر.کام کې د ۲۰۱۰ خوا و شا نه کار کوم، ما پکې بې شمېره بلاګونه جوړ کړي دي، چې ځینې یې اوس هم فعال دي، خو د بېلګې په ډول مې د خپل یو شخصي بلاګ، چې زما لیکنې او لنډې کیسې پکې خپرېږي، انځور لاندې لیدلای شئ.




په بلاګر کې په میلیونونو بلاګونه دي، چې هره ورځ اپډېټ کېږي او په میلیونونو خلک ترې ډالر ګټي.

### ۲۴۱-: بلاګز ورټایز.کام Blogsvertise.com:

د وړیا بلاګونو جوړولو یو بل سرویس دی، چرته چې تاسې ځان ته وړیا بلاګ جوړولای شئ. د وړیا بلاګ جوړولـو نـه وروسـته دلتـه خپلـې لیکنـې، ویډیوګانې، انځورونه او نور هغه څه، چې غواړئ په خپل بلاګ کې یې خپاره کړئ، خپرولای

شئ.

Blogsvertise

دلته هم د بلاګ جوړول ډېر اسان دي، بس د یو څو دقیقو کار دی او خپل بلاګ ځان ته په خپله په ډېر لږ وخت کې جوړولای شئ.

لاندې د ځینو وېبپاڼو لنکونه چې پکې د خپل بلاګ لپاره پوسټونه او ریویوز ترلاسه کولای شئ.

۲۴۲-: BlogToProfit.com ۲۴۳-: Digitaljournal.com

۲۴۴-: expotv.com ۲۴۵-: linklift.net

۲۴۶-: linkvehcle.com ۲۴۷-: linkworth.com

۲۴۸-: loudlaunch.com ۲۴۹-: socialspark.com

۲۵۰-: payperpost.com ۲۵۱-: postjoint.com


۲۵۲-: reviewme.com ۲۵۳-: smorty.com

۲۵۴-: sponsoredreviews.com

**یادګیرنه:** پاس ورکړل شوې وېبپاڼې د بلاګونو لپاره دي، کـه تاسـو غـواړئ چې د دوی پوسټونه او ریویوز په خپلو بلاګونو کې خپرې کړئ او پیسې ترلاسه کړئ، نو دغه وېبپاڼو ته ورتللی شئ.

۲۵۵-: ورډپرېس.کام WordPress.com:

ورډپرېس.کام د وړیا بلاګونو سرویس دی، چرتـه چـې تاسـې ځـان تـه خپـل بلاګ په خپله جوړولای شئ او وروسته پرې په اعلانونو لګولو پیسې ترلاسه کـولای




شــئ او هــم د هغــه پوسټونو لـه لارې، چې په بلاګ کې په خپرولو یــې پیســې ورکــول کېــږي، هــم پیســې ګټلای شئ.



Scanned by CamScanner

دلته چې تاسې کله بلاګ جوړ کړئ نو هغه به www.yourname.wordpress.com راځي، ځکه چې که هر یو ځای کې وړیا بلاګ جوړوئ، نو د هغه سرویس نوم به ستاسو د نوم نه وروسته حتماً راځي.

نو هم نن ورډپرېس.کام ته ورشئ، هلته ځان ته اکاونټ جوړ کړئ او د بلاګونو له لارې چې څومره مو وړتیا وي او څومره خواري کولای شئ، هغه هومره پېسې ترلاسه کړئ.


## ۲۵۶-: بلاګ.کام Blog.com:

تاسې ځان له د بلاګ جوړولو لپاره بلاګ.کام نه هم کار اخستلای شئ. دلته ورشئ، خپل بلاګ جوړ کړئ، یا پرې اعلانونه ولګوئ او یا هم پرې هغه پوستونه خپاره کړئ، چې پېسې پرې ګټلای شئ.

دلته هم بلاګ جوړول ډېر اسان دي او وړیا د ځان لپاره بلاګ جوړولی شئ.

## ۲۵۷-: ورډپرېس WordPress.ORG:

دا یوه ډېره په زړه پورې او پروفېشنل وېبپاڼه ده، چې د پوسټونو خپرولو لپاره ترې کار اخستلای شئ. دا په CMS (Content Management System) کې جوړه شوې ده، چې یکې خوندورې وېبپاڼې او بلاګونه جوړولای شئ.




دا تاسې ته ډېرې اسانتیاوې وړیا درکوي، لکه وړیا Plugins او Widgets. دلته تاسې چې هر رنګه وغواړئ، وېبپاڼه جوړولای شئ.

خو دلته به تاسې وېب هوسټنګ Web Hosting او Domian نوم ځان ته په خپله اخلئ او هغه به بیا دلته راوړئ او دلته به یکې خپل بلاګ یا وېبپاڼه جوړوئ او بیا به له دې ځایه پېسې ګټلای شئ.

Wordpress.org تاسې ته چې کومې اسانتیاوې درکوي، په دې کې تاسې ډیزاین په خپله خوښه جوړولای شئ، دا SEO Friendly دی، د موبایلونو لپاره هم دوی ډېر ښه ډیزاینونه جوړوي، چې په موبایل کې یې لیدونکو ته څه مشکل نه



Scanned by CamScanner

پېښېږي. د دې کار ډېر ښه دی، یعنې High Performance دی، سیکیورټي یې ډېره سخته ده، څوک به په اسانۍ ونه شي کړای، چې ستاسې وېبپاڼه یا بلاګ هېک کړي.

د دوی منېجمنټ ډېر ښه او تېز دی او کارونه یې ډېر اسانه او ساده دي.

دلته په وړیا توګه باندې تاسې ته ۴۵۰۰۰ پنځه څلوېښت زره Plugins درکول کېږي، چې تاسې ترې ګټه پورته کولای شئ.

### ۲۵۸-: جومله.کام Joomla.com:

جومله یو بل ډېر د کار او ګټې ځای دی، چرته چې تاسې ځان ته پروفېشنل وېبپاڼه جوړولای شئ او له هغه لارې پیسې ګټلای شئ.

جومله هم بې شمېره اسانتیاوې او Features لري، له کومو څخه چې تاسې د خپلې وېبپاڼې په جوړولو کې ګټه اخستلای شئ. دلته بلها داسې رنګونه او تهیمز شته، چې تاسې پرې خپله وېبپاڼه خوندوره جوړولای شئ.

د CMS سستم ځینې نورې وېبپاڼې، چې تاسې ترې ګټه پورته کولای شئ:

۲۵۹-: wix.com

۲۶۰-: ravencms.com

۲۶۱-: movabletype.org

۲۶۲-: blogengine.net

۲۶۳-: sitesupra.com

۲۶۴-: ghost.org

۲۶۵-: flazio.com

۲۶۶-: weebly.com

۲۶۷-: webs.com

۲۶۸-: typepad.com

۲۶۹-: htmly.com

۲۷۰-: bolt.com

**یادګیرنه:** پاس ورکړل شوو لنکونو ته ورشئ، هلته د دغه وېبپاڼو اسانتیاوې وګورئ او بیا خپله وېبپاڼه یا بلاګ په څو دقیقو کې جوړ کړئ.




Scanned by CamScanner

# د انلاین کتابونو خرڅولو له لارې پېسې ګټل

د انټرنېټ په نړۍ کې چې یو خوا د خرڅلاو لوی لـوی بازارونـه دي، کـه یـو خوا پکې د انټرنېټ سره تړلي ځیزونـه خرڅېږي، نـو بلخـوا پکـې مـوټرې، سره زر، کالي، لېپ ټاپونه، کمپیوټرې، موبایلې او هر هغه څه، چې د انسـان ورتـه ضرورت دی او دی یې پېري او یا یې دی هره ورځ کاروي، هغه هر څه په انټرنېټ شـته او اخستلای یې شئ.

خـو د دې هـر څـه سره سره پـه انټرنېـټ پـه میلیونونـو کتابونـه هـم شـته، چـې انلایـن پلـورل کېږي او بلها شی وېبپـاڼې ستاسـې کتابونـه نـورو خلکو ته رسوي او په هغوی یې خرڅوي.



د انټرنېټ په نړۍ کې اوس ډېرې کتابونه داسې هم وي، چې هیڅ په کاغـذ چاپ کېږي نه، د انټرنېټ لپاره لیکل کېږي او هم په انټرنېټ پـه Word، PDF او نورو فارمېټونو کې یې خلک اخستلای شي.


نـو لانـدې ځینـې وېبپـاڼې، چـې د کتـابونو د خـرڅلاو دي، د هغـې پـه اړه معلومات درکوو، چې له دې لارې هم تاسې پېسې ګټلای شئ.



Scanned by CamScanner

**۲۷۱-: بک بېبي. کام Bookbaby.com:**

په انټرنېټ د کتابونو e-books د خرڅولو یو لوی بازار. دلته دوی تاسې ته دا اسانتیا هم درکړې، چې د خپلو کتابونو لپاره د دوی د Tools په مرسته خونـدورې او پـه زړه پورې پښتۍ جوړې کړئ، تر څو لوستونکي ورته لېواله شي او ستاسې کتاب له دې ځایه واخلي. نو په انټرنېټ د e-books خرڅولو له لارې تاسې له دې ځایه پیسې ګټلای شئ.




**۲۷۲-: فلک روکیټ. کام Flickrocket.com:**

دا هم د کتابونو د خرڅلاو بازار یا مارکیټ دی. دوی تاسو ته دا اسانتیا درکوي، چې دلته خپل د کتابونو e-books انلاین دوکان پرانیزئ او خپل کتابونه په ټوله نړۍ کې په خلکو خرڅ کړئ.




دا وېبپاڼه یواځې دا نه چې د کتابونو لپاره مشهوره ده، دا وېبپاڼه د انټرنېټ سره تړلي نور ډېر شیزونه هم خرڅوي، لکه ډیزاینونه او اپلیکیشنې.


**۲۷۳-: پې هِپ. کام Payhip.com:**

تاسې کولای شئ چې خپل کتابونه e-books دې وېبپاڼې ته اپلوډ کړئ او له دې لارې یې خرڅ کړئ. دا یوه ډېره اسانه او خوندوره وېبپاڼه ده، چې ستاسې کتابونه خلکو ته رسوي او په هغوی یې خرڅوي. دا وېبپاڼه تاسې ته پیسې د Paypal له لارې درکوي.



Scanned by CamScanner

دا ویبپاڼه نه یواځې دا چې ستاسو e-books خلکو تـه رسوي او خرڅوي یې، دلته تاسو موسیقي، ویډیوګانې، انځورونه، فونټونه، سافټویرې، کورسونه، ډیجیټل آر او نور هغه توکي، چې ډاونلوډ کېږي او خلک یې اخلي، هغه دلته خرڅولای شئ.





دا ویبپاڼه وايي، چې موږ ستاسې کتابونه او نور توکي خونـدي سـاتو او هغـه خلکو ته یې رسوو، چې څوک یې اخلي، کله چې یې هغوی واخلي نـو ستاسـو تـوکي هغوی ته رسوو او د هغوی پیسې تاسو ته دررسوو.

دوی وايي، ستاسو د کتابونو او نورو توکو لنکونه موږ په ټـولنیزو رسـنیو هـم خپروو او په هغه ویبپاڼو او بلاګونو کې یې هم خپروو، چرته چـې سپانسـر لنکونـه لګېدلای شي، تر څو ستاسو د کتابونو او نورو توکو لپاره مشتریان پیدا کړو.

### ۲۷۴-: سیکور اي بک.کام Secure-ebook.com:

د انلاین کتابونو د خرڅولو لپاره یو ډېر خونـدور ځـای دی، چرتـه چـې تاسـو خپـل e-books خرڅـولای شـئ. دوی ستاسـو کتـابونو له مارکیټ پیدا کوي او دا هڅـه کـوي چـې ستاسـو کتابونه خلکو ته ورسوي، تر څو یې هغوی وپېري.





ستاسو د کتابونو لپاره دا یو ډېر ښه ځای دی، دلته تاسو کـولای شـئ خپـل کتابونه ډېر په اسانۍ خرڅ کړئ او له دې لارې پیسې ترلاسه کړئ.



Scanned by CamScanner

# د Revenue Sharing له لارې پېسې ګټل

که تاسې د ګوګل اېډسنس اکاونټ نه لرئ، نو تاسو کولای شئ چې له نورو لارو پېسې وګټئ. تاسو خپلې لیکنې، ویډیوګانې، انځورونه او نور مواد په لاندې



ورکړل شوو وېبپاڼو کې خپرولای شئ او له دغې لارې ځان ته پېسې پیدا کولای شئ. دوی به تاسو ته د ګوګل اېډسنس د اعلانونو له لارې، چې دوی په خپلو وېبپاڼو لګولي دي، کې تاسو ته برخه درکوي، چرته چې ستاسو دا څېزونه خپرېږي. دې ته وايي Revenue Sharing Websites، چې تاسې ته په پېسو کې برخه درکوي.

## د Revenue Sharing وېبپاڼو لیست:

**۲۷۵-: About.com**

که لیکوالي کوئ، نو لیکلو ته کار ووایئ او د دې وېبپاڼې نه ګټه ترلاسه کړئ.

**۲۷۶-: Bukisa.com**

Bukisa وېبپاڼه هم ستاسو لیکنې خپروي او په بدل کې یې درته پېسې درکوي. نو بس خپلې لیکنې دلته د خپرولو لپاره ورکوئ.

**۲۷۷-: Cracked.com**

په دې وېبپاڼه کې د لیکنو نه پرته ویډیوګانې او انځورونه هم خپرولای شئ. نو ستاسو لپاره دا هم ډېر د ګټې ځای دی.

**۲۷۸-: Flixya.com**

دا هم د ګوګل یوه وېبپاڼه ده، چې د خپلو لیکنو په خپرولو پکې ګټه ترلاسه کولای شئ.



Scanned by CamScanner

**Hubpages.com :-۲۷۹**

دا وېبپاڼه تاسو ته، ستاسو په لیکنو کې ۶۰% فیصده ګټه درکوي، نو له دې موقې هم ګټه ترلاسه کړئ.

**Infobarrel.com :-۲۸۰**

